# د ږیرې او د بدن د نورو ویښتانو شرعي احکام

- د ږیرې فلسفه، ثبوت او حکمونه
- د بریتونو احکام
- د سر د ویښتانو احکام
- د ټول بدن د ویښتانو احکام
- د نامه د لاندې د ویښتانو احکام
- د ښځې د ویښتانو احکام
- د جدید هیئر کلر حکم
- د خضاب (د ږیرې د تورولو) حکم


ترتیب او ژباړه

قاري عبدالقیوم لوګري



جدید کتب خانه

حاجی بخت عالم مارکیټ جنوبي وزیرستان ایجنسي وانا

حنفی شافعی

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

# کفایت دینی کتب خانہ

## کفایت اللہ ابن صدیق

واٹس ایپ گروپ ٹیلی گرام چینل

اس گروپ میں کتابیں اہل السنۃ والجماعت، حنفی، شافعی، مالکی، حنبلی، دیوبند ، علماء حق کے عقائد کے مطابق ہوں گی مختلف زبانوں میں اسلامی کتابیں پشتو عربی اردو فارسی جیسے تفسیریں، فتاویٰ درسی کتب خارجی کتب و غیرہ۔

کفایت اللہ ابن صدیق

easypaisa

+923052488551
+923247442395

مالکی حنبلی

# د ږیرې او د بدن د نورو ویښتانو شرعي حکمونه

ترتیب او ژباړه

قاري عبدالقیوم لوګري

ناشر
جدید کتب خانه
حاجي بخت عالم مارکیټ جنوبي وزیرستان ایجنسي وانا

د چاپ ټول حقوق محفوظ دي


## د کتاب ځانګړتیا وې

| | |
|---|---|
| د کتـــاب نوم: | د ږیرې او د بـــدن د نورو ویښتـانو شرعي احکام |
| ترتیب او ژباړه: | قاري عبد القیوم لوګري |
| نظـــــر ثاني: | حضرت مـولانا نعمت الله هاشمي صاحب |
| کمپــــوز: | قاري عبد القیوم لوګري |
| ســـــرپاڼه: | // // // |
| د چاپ کـــال: | ربیع الاول ۱۴۳۲ سنه هجری |
| د چاپ شمـــیر: | ۱۱۰۰ |
| خپروونکی: | جدید کتب خانه وانه |

حاجی بخت عالم مارکیټ جنوبي وزیرستان ایجنسي

## د ښبل خبرې

نحمده و نصلی علی رسوله الکریم

قال الله تبارک و تعالی: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا ادْخُلُوْا فِي السِّلْمِ كَاۤفَّةً وَّ لَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ۝

"ای هغو کسانو چه ایمان مو راوړی دی (یعنې ای مؤمنانو) په اسلام کښې په پوره توګه داخل شئ او د شیطان د قدمونو پیروي مه کوئ! بیشکه شیطان ستاسو ښکاره دښمن دی".

مطلب دا چه هیڅ یو انسان نه شي کولی چه د خپلو خواهشاتو او خیالاتو په مطابق آزاد او بې بندو باره ژوند تیر کړي بلکه د ژوندانه په هره شعبه کښې په هغه باندې د شریعت د احکامو پابندي لازمه ده. په اسلام کښې د ژوندانه د نورو شعبو غوندې د انسان د بدن د ټولو ویښتانو په اړه څرګند او واضح حکمونه موجود دي. د سر ویښتان، د ږیرې ویښتان، بریتونه، د نامه د لاندې، د تخرګونو او همدارنګه د ښځو د سر ویښتان او داسې نور. لنډه دا چه د انسان په بدن کښې را شنه کیدونکو ټولو ویښتانو په اړه جلا جلا حکمونه شته چه د هغو پابندي د هر مؤمن لپاره که نر وي او که ښځه ضروري ده. لیکن په نن زمانه کښې د شریعت د نورو حکمونو غوندې د ویښتانو په اړوند هم زیات غفلت او بې خبري تر سترګو کیږي.

له دې امله دا خبره ذهن ته راغله چه د ویښتانو په اړه یوه داسې رساله وژباړم چه د خلکو لپاره او خصوصاً د پښتنو ورونړو لپاره په دې اړه د مسئلې پلټنه او په هغې باندې عمل کول ورته آسانه شي. لکه څرنګه چه د الله تعالیٰ جَلَّ جَلالُهُ په توفیق سره د حضرت مولانا مفتي احسان الله شائق صاحب خادمِ افتاء او تدریس جامعة الرشید احسن آباد کراچي رساله په نامه د "ڈاڑھی اور بالوں کے شرعی احکام" په مکمله توګه او د مولانا محمد انور بن اختر د "ڈاڑھی شیو اور جدید سائنسی تحقیقات" نومي کتاب څخه مې ځینې مضامین په پښتو ژبه وژباړل. او د یوې رسالې په شکل کښې ئې خپلو پښتنو ورونړو ته وړاندې کوم.

د الله تعالیٰ له دربار څخه هیله ده چه دا ناچیزه کوشش په خپل دربار کښې قبول او د خلکو لپاره ئې ګټور وګرځوي او همدارنګه زما، زما د استاذانو، والدینو او ټولو معاونینو لپاره ئې صدقهٔ جاریه وګرځوي. آمین.

وصلی الله تعالیٰ علیٰ خیر خلقه وآله واصحابه اجمعین.

قاري عبد القیوم لوګري

جـدید کتب خانه وانه

۱۰ ربیع الاول ۱۴۳۳ هجری

په مطابق د ۲ فروری ۲۰۱۲ء

## د مضامينو فهرست



| | | |
|---|---|---|
| ❁ | د ږيرې فلسفه | ۹ |
| ❁ | له قران پاک څخه د ږيرې ثبوت | ۱۱ |
| ❁ | لومړی ثبوت<br>دُ ږيرې پرېښودل د انبياؤ سُنت دی | ۱۲ |
| ❁ | دويم ثبوت<br>پيغمبر عليه السلام چه تاسو ته څه درکوي هغه در ونيسی او چه له څه شي څخه مو منع کوي له هغه څخه منع شی | ۱۳ |
| ❁ | دريم ثبوت<br>له الله جل جلاله سره د محبت معيار د رسول الله ﷺ متابعت دی | ۱۲ |
| ❁ | څلورم ثبوت<br>رسول الله ﷺ ستاسو لپاره غوره نمونه ده | ۱۸ |
| ❁ | پنځم ثبوت<br>په الهي فطرت کښې رد او بدل نه شي کيدلی | ۱۹ |
| ❁ | شپږم ثبوت | ۱۹ |
| ❁ | اووم ثبوت<br>د کافرانو د طريقو خوښوونکو خلکو ځای جهنم دی | ۲۱ |
| ❁ | په حديثو سره د ږيرې ثبوت | ۲۳ |
| ❁ | د ږيرې خريل له منکراتو څخه دی | ۲۴ |
| ❁ | ږيره د نار ينه لپاره ښا ئست دی | ۲۴ |
| ❁ | د ږيرې خريل له ښځو سره مشابهت دی | ۲۷ |
| ❁ | د ږيرې د پر يښو د لو د نيوي گټې | ۲۹ |
| ❁ | د ږيرې يو څو عام فضيلتونه | ۳۳ |
| ❁ | له يوه موټي څخه د زياتې شوې ږېرې د پرې کولو حکم | ۳۵ |
| ❁ | ږيره بايد له دريواړه خواوو څخه يو يو موټی وي | ۳۷ |
| ❁ | د ږيرې د لنډولو تاريخ | ۳۷ |
| ❁ | د ږيرې خريل د قوم لوط عمل دی | ۳۸ |

| | |
|---|---|
| د ږیرې د خریلو او لنډولو حکم | ٣٩ |
| د ږیرې خریل دوامداره او خطرناک جرم (ګناه) دی | ٤١ |
| په ږیرې پورې توقې او له هغې څخه نفرت د کفر نخښه ده | ٤٢ |
| د نبي کریم ﷺ د محبت دروغجنه دعوی | ٤٣ |
| د ږیرې خریل له تقوی سره ټکر دی | ٤٥ |
| افسوس! د ثقافت په میدان کښې مسلمانانو د اروپا په مخکښې سرونه ټیټ کړي دي | ٤٥ |
| د ږیرې سپکاوی کفر دی | ٤٦ |
| د نه دینداري توب له وجې د ږیرې نه پرېښودل | ٤٨ |
| د ږیرې خریونکی چه کله په قبر کښې د نبي کریم ﷺ سره مخامخ شي نو په کومو سترګو به ورته ګوري؟ | ٥٠ |
| د ږیرې له خریونکي خلکو څخه په خوب کښې د نبي کریم ﷺ ناخوښي | ٥١ |
| د نبي کریم ﷺ د ایران د بادشاه له دوو ږیرې خریونکي قاصدانو څخه کرکه | ٥٢ |
| سک مسلمان شو | ٥٣ |
| په ږیرې باندې بحث کوونکي سړي ته غانښ ماتوونکی ځواب | ٥٤ |
| له خپل ثقافت او تهذیب سره دښمنانه رویه | ٥٤ |
| د افسوس مقام | ٥٧ |
| ږیره له کوم ځایه شروع کیږي؟ | ٥٨ |
| د رخسار (باړخو ګانو) د ویښتانو حکم | ٥٨ |
| د مرۍ د ویښتانو حکم | ٥٩ |
| د لاندینۍ شونډې لاندې چه کومه وړه ږیره ده د هغې حکم | ٥٩ |
| د سپینو ویښتانو د ایستلو حکم | ٥٩ |
| د قطع شویو (پرې شویو) ویښتانو حکم | ٦٠ |
| د ږیرې د راوستو لپاره په مخ باندې د چړې تیرول | ٦١ |
| د ږیرې د بد ګڼلو حکم | ٦١ |
| ږیرې ته د غوټې د ور اچولو حکم | ٦٢ |

| | | |
|---|---|---|
| ❁ | د ږیرې ویښتان باید په جومات کښې و نه لویږي | ۶۲ |
| ❁ | د دندې د تر لاسه کولو لپاره د ږیرې د خریلو حکم | ۶۳ |
| ❁ | د ږیرې پریښودل سُنت دی او که واجب؟ | ۶۴ |
| ❁ | که چیرته د ښځې ږیره او بریتونه راشي نو څه به کوي؟ | ۶۶ |
| ❁ | د خضاب (د ږیرې د تورولو) حکم | ۶۶ |
| ❁ | د تور خضاب حکم | ۶۷ |
| ❁ | د حضرت مفتي عبد الرحیم لاجپوري رحمه الله فتوی | ۶۹ |
| ❁ | د مجاهدینو لپاره د تور خضاب لګولو حکم | ۶۹ |
| ❁ | چا ته د فریب (دوکې) د ورکولو په غرض د تور خضاب لګول | ۶۹ |
| ❁ | د خپلې ښځې د خوشحالولو په نیت د تور خضاب د استعمالولو حکم | ۷۰ |
| ❁ | د جدید هیئر کلر (د ویښتانو نوی رنګ) حکم | ۷۲ |
| ❁ | د تور خضاب د جوړولو حکم | ۷۲ |
| ❁ | د ږیرې د خریونکي اذان او اقامت | ۷۳ |
| ❁ | د ږیرې د خریونکي امامت | ۷۳ |
| ❁ | د ږیرې د خریونکي پسې د تراویح لمونځ جائز نه دی | ۷۴ |
| ❁ | د ږیرې د خریلو اجرت (مزدوره) | ۷۴ |
| ❁ | د لاسونو ګناه | ۷۵ |
| ❁ | د ږیرې په خریونکي باندې د سلام اچولو حکم | ۷۵ |
| ❁ | د ږیرې د خریونکي د سلام ځواب ورکول | ۷۶ |
| ❁ | هر ږیرې لرونکي ته د مولوي ویلو حکم | ۷۶ |
| ❁ | د بریتونو حکم | ۷۸ |
| ❁ | د ږیرې د سپینو ویښتانو په اسلام کښې ارزښت | ۷۹ |
| ❁ | د بریتونو د کمولو حکم | ۸۱ |
| ❁ | د بریتونو ښې او کیڼې خوا ته د اوږدولو حکم | ۸۲ |
| ❁ | مجاهدینو ته د بریتونو د اوږدولو حکم | ۸۲ |
| ❁ | د بریتـــونو د خـــریلو حکـــم | ۸۳ |
| ❁ | د سر د ویښتانو د جائزو صورتونو بیان | ۸۴ |
| ❁ | په سر باندې د ویښتانو د پریښودلو حکم | ۸۵ |

| | | |
|---|---|---|
| ❀ | د سر د ویښتانو ناجائز صورتونه | ۸۶ |
| ❀ | د کوچني هلکانو د ویښتانو حکم | ۸۷ |
| ❀ | د نارینه لپاره د ویښتانو کوڅۍ کول جائز نه دي | ۸۷ |
| ❀ | د ښځو لپاره د کوڅیو حکم | ۸۸ |
| ❀ | د مصنوعي ویښتانو د لګولو حکم | ۸۹ |
| ❀ | د انساني ویښتانو د خرڅولو حکم | ۹۰ |
| ❀ | د ښځو لپاره د ویښتانو د کمولو حکم | ۹۰ |
| ❀ | نجـــونې به خپل ویښتان له څو کلنې څخـه نه کموي؟ | ۹۱ |
| ❀ | د وروځو حکم | ۹۲ |
| ❀ | د سینې او ګیډې د ویښتانو حکم | ۹۲ |
| ❀ | د متو او ورنونو د ویښتانو حکم | ۹۳ |
| ❀ | د پوزې په دننه کښې د ویښتانو حکم | ۹۳ |
| ❀ | د غوږونو د ویښتانوحکم | ۹۳ |
| ❀ | د غړې د ویښتانو حکم | ۹۴ |
| ❀ | د تخرګونو د ویښتانو حکم | ۹۴ |
| ❀ | د نامه لاندې د ویښتانو حکم | ۹۴ |
| ❀ | د نامه لاندې د ویښتانو د پاکولو طریقه | ۹۵ |
| ❀ | د نامه لاندې د ویښتانو لپاره د پوډر استعمالول | ۹۵ |
| ❀ | په بل چا باندې د نامه لاندې د ویښتانو د پاکوالي حکم | ۹۵ |
| ❀ | د نامه لاندې د ویښتانو حدود | ۹۶ |
| ❀ | په سر باندې د تیل د لګولو یعنې د سر د غوړولو حکم | ۹۷ |
| ❀ | په سر کښې د لیکې د ایستلو حکم | ۹۷ |
| ❀ | د ویښتانو په ښه توګه د ساتلو حکم | ۹۸ |
| ❀ | د ویښتانو د پاک او ناپاک والي بیان | ۹۹ |

## د ږیرې فلسفه

مسلمان قوم یو مستقل او ځانګړی ملت دی چه له ټولوملتونواوقومونوڅخه بالکل د جلا سالم فطرت درلودونکی دی. الله تعالی ﷻ دوی د نړۍ په نورو قومونو باندي د ګواهانو او عادلانو په توګه دُنیا ته را لیږلي دي.

وَكَذٰلِكَ جَعَلْنٰكُمْ اُمَّةً وَّسَطاً لِّتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُوْنَ الرَّسُوْلُ عَلَيْكُمْ شَهِيْداًO كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِO

"یعني مونږ تاسو لره یو داسي امت ګرځولي یئ چه غوره انتهائي په اعتدال باندي یاست ترڅو چه تاسو په خلکو باندي ګواهان شئ او په تاسو باندي رسول الله ﷺ ګواه وي. تاسو بهترین امت یی کوم چه د خلکو لپاره را ایستل شوي یاست".

لیکن افسوس چه دې قوم له ډیرې مودې راهیسې خپل دیني او مذهبي ځانګړتیاوې تر پښو لاندې کړي دي. نن ورځ خپل تمدني او معاشرتي ځانګړتیاوې هم له منځه وړي. په رسم او رواج کښې د هندوانو او په معاشرت او تمدن کښې د مغربیانو (انګریزانو) تقلید د مسلمان په ولیو او رګونو کښې ځای نیسي.

نن ورځ په داسې حال کښې چه د نړۍ هر قوم او ملت د خپل قومي او ملي ځانګړتیاوو د بقا او ساتنې لپاره چمتو او بوخت تر سترګو کیږي لیکن مسلمان خپل قومي او ملي

خصوصيتونه او ځانګړتياوې د فرنګيانو نذرانه کوي او په هغو کښې منحليږي.

های افسوس! پرون چه کوم قوم د نړۍ د قومونو لپاره جاذب او مصلح وو، (مقتدا او لارښوونکي وو، هر قوم د اسلام په لمن کښې د پناه غوښتونکي وو) نن هغه په څومره چټکۍ سره په نورو قومونو کښې جذب کيږي او د پرديو نقالي د ترقۍ معيار بولي. په داسې حال کښې چه د عقل د خاوندانو په نزد دا تر انتهائي تنزل، انحطاط (لويدل او ورکيدل) او د قوميت لپاره تر مرګوني زهرو څخه کم نه دی.

ترسم نرسی بکعبه اے اعرابی کین راه که تو میروی به ترکستان است

ږيره د اسلام له شعائرو څخه يو ډير مهم شعار دی بلکه د انساني او فطري اصولو له مخې د نارينتوب له ځانګړتياوو څخه ده ليکن ډيره د افسوس خبره ده چه تر ټولو خلکو مسلمانان زياتره د ږيرې په خريلو پسې دي او په دې توګه قومي او ملي امتياز خو پريږده انسانيت او فطرت هم ور پورې خاندي.

نو د ږيرې خريل اسلام او دين خو پريږده د انسانيت خلاف هم دی. همدا وجه ده چه له فطرت څخه ګڼل شوی دی. حضرت ام المؤمنين سيده عائشه رضي الله عنها فرمايي:

قال رسول الله ﷺ عشر من الفطرة قص الشارب و اعفاء اللحية.

(صحيح المسلم، الطهارة، خصال الفطرة ٢٦١)

"رسول الله ﷺ وفرمايل: چه لس شيان له فطرت څخه دي چه له هغو څخه دوه شيان دا دي: "د بريتونو لنډول او د ږيرې اوږدول".

له علماوو څخه د فطرت لفظ په دوو معناوو سره راغلی دی. يو دا چه له دې څخه مراد دين دی او بل دا چه هغه طريقهٔ کومه چه د ټولو انبياوو عليهم السلام ده چه مونږ ته ئې د متابعت حکم شوی دی. (فتح الباري ج۱۰، ص۳۳۹)

پس له دې څخه د ږيرې شان او عظمت څرګند شو ځکه چه ږيره دين دی نو له ږيرې پرته انسان بې دينه شميرل کيږي او ږيره د ټولو انبياوو سُنت دی نو بيا له ږيرې پرته اوسيدل د ټولو انبياوو عليهم السلام د سُنتو خلاف ورزي شوه او له ټولو شريعتونو څخه سرکشي شوه.

## له قرآن پاک څخه د ږيرې ثبوت

له قرآني آيتونو څخه په ښکاره توګه دا خبره څرګنديږي چه د رسول الله ﷺ ويناوې او حديثونه هم د الله تعالی جل جلاله وحيې دي او قرآنکريم هم د الله تعالی جل جلاله وحی ده. فرق يوائې دومره دی چه يو وحی متلو دی يعنې تلاوت ئې کيږي او بل وحی غير متلو دی کوم چه تلاوت ئې نه کيږي. له دې امله د ږيرې پريښودل هم په الهي وحی سره ثابت دي.

## لومړی ثبوت

## د ږيرې پرېښودل د انبياؤ سنت دی

قَالَ يَبْنَؤُمَّ لَا تَأْخُذْ بِلِحْيَتِي وَلَا بِرَأْسِي (سورة طٰهٰ. آيت ۹۴)

"ای زما د مور زويه زما د ږيرې او سر ويښتان مه نيسه"

دا مبارک آيت د اقتضاء النص درجه لري چه د ټولو انبياء کرامو د پاک شکل نقشه ئې بيان کړې ده چه د الله تعالی نيکو بندګانو او انبياء کرامو عليهم السلام ټولو ږيرې پرېښې وې.

ثابته شوه چه د هر مسلمان سړي ږيره ضرور بايد وي.

د حضرت هارون عليه السلام اوږده ږيره دا وايي چه ده مبارک ږيره پرېښې وه او د يوه آن لپاره دا نه ده ثابته چه کوم نبي دې ږيره يا خريلې او يا لنډه کړې وي. بلکه د پاک حديث له لسو فطري شيانو څخه دا څرګنديږي چه ټول انبياء کرام په ټول ژوندانه کښې تل ږيرور وو.

چه کله انبياء کرامو عليهم السلام دا مبارکه ږيره پخپلو مخونو پورې لګيدلې ساتله نو خامخا خه درجه او مقام لري. آيا د عقل مند او محبت کوونکو لپاره همدومره کافي نه ده چه د ږيرې مبارکې په وقار (قدر او مرتبه) باندې پوه شي.

دا آيت شريفه امام سيوطي رحمه الله په (الدر المنثور ج ۱. ص ۲) کښې را نقل کړې ده.

أُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ هَدَى اللّٰهُ فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ۔ (الانعام۹۰)

"دا انبیاء کرام علیهم السلام داسې وو چه الله تعالی هدایت ورته کړی وو نو تاسو هم په دې هدایت کښې د هغوی اقتداء وکړی".

نو څرګنده شوه چه د ږیرې پریښودل د انبیاء کرامو سُنت او اقتداء ده او د هدایت لاره ده. الله تعالیٰ دې مونږ د هدایت په لارې برابر کړي (آمین)

## دویـــم ثبـــوت

**پیغمبر علیه السلام چه تاسو تـه څه درکوي هغـــه در ونیسی او چه له څه شي څخه مو منع کوي له هغه څخه منع شی**

وَمَآ اٰتٰكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا. (سورهٔ حشر. آیت ۷)

"چه کوم شی تاسو ته رسول الله ﷺ درکوي هغه در ونیسی او چه له کوم شي څخه مو منع کوي له هغه څخه منع شی".

له دې آیت کریمه څخه ثابته شوه چه په هر امر او نهی کښې د رسول الله ﷺ د هر قول او فعل متابعت فرض او واجب دی.

د ږیرې اوږدول او پریښودل د رسول الله ﷺ له قول، فعل او امر څخه ثابت دي او د خریلو او لنډولو ممانعت ئې په صراحت سره راغلی دی.

له دې امله ثابته شوه چه د ږیرې پریښودونکي او اوږدوونکي د قرآنکریم په دغو آیتونو باندې عمل کوونکي دي او همدا د رسول الله ﷺ په اتباع کښې شامل دی او خریونکي او

لندوونکي ئې د الله تعالی ﷻ او د هغه د رسول ﷺ مخالف دي او په ښکاره توګه د رسول الله ﷺ د حکم باغيان دي او د رسول الله ﷺ د مخالفت کوونکو سزا څه ده؟

لکه څرنګه چه سلف صالحينو او صحابهٔ کرامو رضوان الله عليهم اجمعين ټول هغه مستقل احکام کوم چه په حديثو سره ثابت وو د همدغو آيتونو له مخې قرآني احکام او قرآني بيانونه بلل. حضرت عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه ته يوې زړې ښځې وويل چه ته په خال وهونکو ښځو باندې لعنت وايې په داسې حال کښې چه په قرآنکريم کښې په خال وهلو باندې هيچرته منع نه ده راغلې. عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه وفرمايل چه کاش! چه تا قرآنکريم لوستلی وای. آيا په قرآن پاک کښې دا آيت نه دی راغلی چه؟

وَمَا آتٰكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا. (سورهٔ حشر. آيت ۷).

"چه کوم شی رسول الله ﷺ تاسو ته درکوي هغه در ونيسی او چه له کوم شي څخه مو منع کوي له هغه څخه منع شی".

بوډۍ وويل چه هو! دا آيت خو شته. نو و ئې فرمايل چه پس له دې امله رسول الله ﷺ په واشمه يعنې په خال وهونکې ښځې باندې لعنت ويلی دی او له دې بد او قبيح کار څخه ئې منع کړې ده. نو د رسول الله ﷺ دا حکم د دې آيت بيان شو او قرآني حکم وګرځيد.

مونږ د لنډوالي له امله د قرآنکریم په څو آیتونو اکتفا کړې دی. داسې خو د منونکو لپاره یو آیت هم د دلیل په توګه کافي دی او د نه منونکو لپاره پوره دفتر هم کفایت نه کوي.

آنکھیں اگر ہیں بند تو پھر دن بھی رات ہے اس میں بھلا قصور کیا ہے آفتاب کا

"چه سترګې د چا پټې وي نو ورځ هم ورته توره شپه ده، په دې کښې د لمر څه ګناه او قصور دی".

که چیرته یو څوک دا اعتراض وکړي چه په دغو آیتونو کښې خو په واضحــــه او ښکاره توګه د ږیرې د پریښودلو حکم نشته. نو د داسې خلکو لپاره لنډ ځواب دا دی چه زمونږ لپاره خو د نبي کریمﷺ قول او فعل حجت او دلیـــــل دی او په قرآنکریم کښې د نبي کریمﷺ د متابعت حکم ورکړشوی دی. نو بس زمونږ لپاره همدومره خبره کافي ده.

او د حضرت حکیم الامت اشرف علي تهانويرحمه الله په دې لړ کښې ځواب دا دی چه دلائل څلور دي: قرآنکریم، احادیث، اجماع، فقه. په دغو څلورو کښې چه په کوم یوه ځواب ورکړ شي نو داسې دی لکه له څلورواړو څخه چه ځواب ورکړ شوی وي. چه کله د ږیرې د پریښودلو حکم په حدیثو سره ثابت شي نو ګوا کې له قرآنکریم څخه ثابت دی.

مَنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللهَ

"څوک چه د رسول اطاعت وکړي په تحقیق سره هغه د خدای اطاعت وکړ".

له حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله څخه چا د ږیرې ثبوت له قرآنکریم څخه وغوښت نو هغه ورته وفرمایل:
وَمَا اٰتٰکُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰکُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا
نو وئې فرمایل: په دې آیت کریمه کښې د ږیرې د پرېښودلو حکم موجود دی. د دې لپاره دا زمونږ حق دی چه مونږ په دې سنت باندې د عمل کولو تاکید کوو.

**دریـــم ثبــوت**

**له الله جل جلاله سره د محبت معیار د رسول الله ﷺ متابعت دی**

قُلْ اِنْ کُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِیْ یُحْبِبْکُمُ اللّٰهُ وَ یَغْفِرْ لَکُمْ ذُنُوْبَکُمْ (سورة آل عمران. آیت ۳۱)

" ته (ای پیغمبره خلکو ته) ووایه چه که چیرته تاسو له الله جل جلاله سره محبت کوی نو تاسو زما متابعت وکړی، الله تعالی جل جلاله به له تاسو سره محبت وکړي او ستاسو ټول گناهونه به معاف کړي".

په دې آیت کښې د رسول الله ﷺ متابعت له خدای جل جلاله سره د محبت معیار گڼل شوی دی. یعنې که چیرته په دُنیا کښې یو څوک له خپل حقیقي مالک سره د محبت دعوه ولري نو لازمه ده چه د محمدي ﷺ متابعت د کیمیا په ذریعه وکتل شي، نو ټول به گډوډ ښکاره شي.

دې آیت د اشارې په توگه د ږیرې فضیلت او واجب والی بیان کړی دی ځکه چه دې آیت ټولو خلکو ته په عامه توگه او مسلمانانو ته په ځانگړې توگه د رسول الله ﷺ په پل باندې

پله د ايښودلو او د هغه د متابعت حکم ورکړی دی او متابعت د افعالو او اعمالو وي. د ږيرې مبارکې پريښود ل هم د ده ﷺ په مبارکو افعالو کښې شامل دی نو ځکه په دې آيت کښې د رسول الله ﷺ په متابعت ټينګار شوی دی او متابعت د محبت لپاره شرط هم دی او چه متابعت وي نو هلته محبت وي او چه محبت وي نو هلته متابعت وي. او پام کوئ چه د اتباع او اقتداء تر منځ ډير فرق دی.

اتباع دې ته وائي چه د يوه چا داسي فرمانبرداري يا پيروي وشي چه بالکل د هغه په پله باندي پل کيښودل شي او د يوې ذرې غوندې نه ترې مخکښې شي نه وروسته نه ښی خوا ته او نه کيڼې خوا ته.

او اقتداء دې ته وايي چه يو سړی هغه سيده لاره غوره کړي چه په هغې باندي کله نا کله يو ځوک تللی وي، يا د چا د حکم منل چه اطاعت هم ورته وايي.

په مسلمانانو باندې يوائې او يوائې د رسول الله ﷺ متابعت واجب دی نه د بل چا. کـه چيرته د کوم بل نبي د متابعت حکم ورکړی شوی هم دی نو هغه مجازي دی. يعنې د رسول الله ﷺ په واسطه ورکړ شوی دی.

## څلورم ثبوت

### رسول الله ﷺ ستاسو لپاره غوره نمونه ده

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُولِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (سورة الاحزاب، آیت۲۱)

"ستاسو لپاره د رسول الله ﷺ یوه غوره نمونه موجوده ده".

په دې آیت کریمه کښې د رسول الله ﷺ د اتباع او اقتداء ټینګار د یوې ضابطې په صورت کښې بیان شوی دی کوم چه د رسول الله ﷺ د ټولو اقوالو او افعالو د اقتداء حکم ترې ثابتیږي. د محققینو او د تفسیر د امامانو په نزد د دې عملي شکل دا دی چه د کوم کار د کولو یا نه کولو له رسول الله ﷺ څخه د وجوب په درجه کښې ثابت شوی وي د هغه اتباع واجب او لازم دی او چه کوم د استحباب په درجه کښې ثابت شوی وي د هغه کول او نه کول د استحباب په درجه کښې پاتې شوی دی چه مخالفت ترې ګناه نه دی ګڼل شوی.

(معارف القرآن ج۷، ص۱۲۱، سورۀ احزاب)

او د ږیرې پرېښودل له نبي کریم ﷺ څخه د وجوب په درجه کښې ثابت شوی دی، له دې امله د دې آیت له مخې د سُنتو په مطابق ږیره پرېښودل واجب دي. کوم سړی چه د قطعي نصوصو او صحیحو حدیثونو په مقابل کښې د عقل آس وزغلوي او له قرآنکریم څخه د ږیرې واجب والی و نه مني نو د علامه اقبالؒ په وینا د خبرو درجه ئې دا ده چه را واخیستل شي او د باندې په ګلي کښې واچول شي.

## پنځم ثبوت

### په الٰهي فطرت کښې رد او بدل نه شي کیدلی

د الله ﷻ مبارک ارشاد دی:

فِطْرَتَ اللّٰهِ الَّتِیْ فَطَرَ النَّاسَ عَلَیْهَا لَا تَبْدِیْلَ لِخَلْقِ اللّٰهِ ذٰلِکَ الدِّیْنُ الْقَیِّمُ وَلٰکِنَّ اَکْثَرَ النَّاسِ لَا یَعْلَمُوْنَ ○ (سورة الروم ۳۰)

"دا الهي فطرت (پیدائش) دی په کوم باندې چه هغه خلک پیدا کړي دي، د الله ﷻ په دې خلقت کښې هیڅ رد او بدل نه شي کیدلی. پس همدغه نیغ او سم دین دی لیکن اکثره خلک نه پوهیږي".

شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله وايي:

وقصهااي اللحیة سنة المجوس وفیه تغیر خلق الله. (حجة الله البالغة ۱/ ۱۵۲)

"د ږیرې خریل د آتش پرستو طریقه ده او د خدای په تخلیق کښې بدلون دی".

## شپږم ثبوت

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا ادْخُلُوْا فِی السِّلْمِ کَآفَّةً وَّلَا تَتَّبِعُوْا خُطُوَاتِ الشَّیْطٰنِ اِنَّهٗ لَکُمْ عَدُوٌّ مُّبِیْنٌ ○ (سورة البقرة. آیت ۲۰۸)

"ای د ایمان خاوندانو! په اسلام کښې پوره پوره داخل شی او د شیطان په قدم باندې مه ځی، بې له شکه هغه ستاسو ښکاره دښمن دی".

دا مبارک آیت د حضرت عبد الله بن سلام رضی الله عنه او د هغه د ملګرو په حق کښې نازل شوی دی. دوی په اسلام باندې د

مشرف کيدو برسيره د اوبښ د غوښې خوړل نه خوښول ځکه قر
چه د هغو په پخوانې دين کښې د اوبښ غوښه نه خوړل کيدله. په
او قاعده دا ده چه کوم شيان له کوچنيوالي څخه په ض
استعمال کښې راځي له هغو سره زړه لګيدلی وي او چه کوم
شيان له کوچنيوالي څخه چا نه وي استعمال کړی له هغو ب
سره په فطري توګه نفرت موجود وي. همدا وجه وه چه هغو د ب
اوبښ غوښه نه خوړله.

دويمه خبره دا وه چه د اوبښ غوښه کوم فرض او واجب نه وو
چه خوړل ئې له ضرورياتو څخه وو. هغوی دا خيال کړی وو چه نه
خوړل خو ئې د دين د کوم حکم يا رکن سره ټکر نه دی!

له دې امله نه خوړل ئې پروا نه لري په دې خيال سره ئې د
اوبښ غوښه نه خوړله ليکن الله تعالیٰ ﷻ په همدومره وړې
خبرې باندې د قرآنکريم دا آيت نازل کړ او وئې فرمايل چه تر
هغه وخته پورې تاسو په اسلام کښې پوره پوره نه شی
داخليدلی تر څو پورې مو چه د اوبښ غوښه نه وي خوړلې. تاسو
هم لږ غوندې غور وکړی چه د اوبښ د غوښې خوړل کوم فرض
يا واجب کار نه وو ليکن بيا هم د قرآنکريم دا آيت نازل شو.

دې خوا ته تاسو وينئ چه ږيره په اسلام کښې لوړ مقا
لري کوم چه د واجبو په درجه کښې ده. له دې امله د قرآنکر
دا آيت کريمه څرګنده کړه چه د ږيرې خريل يا له يوه موټ
څخه کموونکي خلک پوره پوره په اسلام کښې داخل نه دي.

قرآنکریم دې آیت اعلان وکړ چه که چیرته تاسو خپل ځانونه پوره په اسلام کښې داخلول غواړی نو د ږیرې مبارکې پریښودل درته ضروري دي که ئې څوک مني او که نه.

او درسول الله ﷺ دا فیصله ده چه ستاسو په مخ باندې باید چه ږیره وي. څوک چه د رسول الله ﷺ فیصله نه مني نو بیا د هغه لپاره د خدای ﷻ څه حکم دی؟ په راتلونکي مبارک آیت باندې ښه غور وکړی:

## اووم ثبـوت

### د کافرانو د طریقو خوښوونکو خلکو ځای جهنم دی

ټولو صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم، تابعینو او تبع تابعینو رحمة الله علیهم او د امت ټولو علماوو، صلحاوو له آدم علیه السلام څخه را ونیسه تر اوسه پورې ټولو ږیرې پریښې وې او له دې لوی او عظیم تواتر څخه د یوه تش په نامه دیندار مخالفت هم نه شي ثابتیدلی او نه ئې څوک ثابتولی شي.

نو بیا له دومره پاکو او ښکاره تینګارونو او تائیدونو وروسته چه کوم بد نصیبه مسلمان سره له پوهې د نبي کریم ﷺ د مخالفت په کولو سره د آتش پرستو لاره غوره کړي نو د داسې خلکو په باره کښې د خدای ﷻ څومره پاک او ښکاره ارشاد راغلی دی. په غور سره ئې ووایی او عبرت ترې واخلی.

وَ مَنْ یُّشَاقِقِ الرَّسُوْلَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَیَّنَ لَهُ الْهُدٰی وَ یَتَّبِعْ غَیْرَ سَبِیْلِ الْمُؤْمِنِیْنَ نُوَلِّهٖ مَا تَوَلّٰی وَ نُصْلِهٖ جَهَنَّمَ وَ سَآءَتْ مَصِیْرًا ○ (سورة النسآء. رکوع ۱۷)

"او چه کوم سړي ته د نیغې لارې تر معلومیدو وروسته هم د رسول الله ﷺ مخالفت وکړي او د مؤمنانو لاره پرېږدي د کفارو لار غوره کړي نو مونږ هم هغه لره هم هغې خوا ته اړوو کومې خوا ته چه اړول غواړي، بیا ئې مونږ جهنم ته رسوو او جهنم ډیر بد ځای د اوسیدو دی".

په دې آیت کښې ئې دوه شیان لوی جرم او جهنم ته د داخلیدو سبب بللی دی. یو د رسول الله ﷺ مخالفت او بل چه په کوم کار باندې ټول مسلمانان متفق وي د هغه پرېښودل او په خلاف ئې کومه بله لار غوره کول.

له دې ځخه دا هم ځرګنده شوه چه د امت اجماع حجت دی، یعنې لکه ځرنګه چه د قرآن او سُنتو بیان شویو احکامو باندې عمل کول واجب دي همدارنګه د امت اتفاق چه په ځه شي باندې راشي په هغه باندې هم عمل کول واجب دي. (خلاصه له معارف القرآن ځخه)

او ږیره د یوه موټي په اندازه پرېښودلو باندې د اُمت اتفاق دی، هیڅوک ئې مخالفت نه کوي، له دې امله په همدې اندازې باندې د ږیرې په نه پرېښودلو کښې د رسول الله ﷺ مخالفت هم دی او د مسلمانانو د لارې پرېښودل او د پردیو د لارې خپلول هم دي کو

چه انجام ئې د قرآن كريم د همدې آيت له مخې جهنم ته داخليدل دي.

## په حديثو سره د ږيرې ثبوت

لكه څرنګه چه ږيره د اسلام شعار دی او خريل يا لنډول ئې او د بريتونو اوږدول د يهودو او نصاراوو شعار دی نو پيغمبر ﷺ خپل امت ته د ږيرې په پريښودلو سره د دې شعار د ساتنې او له نورو قومونو سره د مخالفت حكم فرمايلی دی. لكه څرنګه چه بخاري او مسلم شريف كښې دي.

خالفوا المشركين اوفروا اللحى واعفوا الشوارب. (مسلم)

خذوا الشوارب وارحوا اللحى خالفوا المجوس. (بخاری،ص ۸۷۵)

د دغو روايتونو په شان نور هم ډير روايتونه د حديثو په كتابونو كښې موجود دي چه له هغو څخه څرګنديږي چه په هغې زمانې كښې مشركينو او مجوسيانو (آتش پرستو) ږيرې لنډولي او بريتونه ئې اوږدول لكه څرنګه چه نن ئې هم عيسايان او هندوان كوي. نو په مسلمانانو باندي لازمه ده چه د خپل شعار ساتنه وكړي، د يوه موټي په اندازه ږيره پريږدي او هيڅكله ئې تر موټي كمه نه كړي او خپل بريتونه لنډ كړي.

## د ږیرې خریل له منکراتو څخه دی

د احیاء العلوم په شرح اتحاف السادة المتقین کښې دي چه:

اما نتفها فمن المنکرات و کذا حلقها و ازالتها بالنورة و فی سیاق النووی من اشد المنکرات. (اتحاف شرح احیاء، ج۲، ص ۴۲۶، مصری)

"د ږیرې له بیخه ایستل له منکراتو (بدو او ناروا کارونو) څخه دی. همدارنګه د ږیرې خریل یا ئې د چونې په ذریعه له منځه وړل هم له منکراتو څخه دی. بلکه امام نووي رحمة الله علیه وفرمایل چه دا کار له سخت ترینو منکراتو څخه یعنې له ډیرو سختو بدو کارونو څخه دی".

له دې تشریح څخه دا خبره په ښکاره توګه څرګندده شوه چه یواځې د ږیرې خریل نه بلکه د ږیرې د لنډولو په ماشین سره ئې کمول او له یوې قبضې څخه د کمې ږیرې پریښودل هم د مجوسیانو (اور پرستو) طریقه ده. چه نبي کریم ﷺ له دې څخه د ځان ساتنې تاکید یا ټینګار کړی دی.

## ږیره د نارینه لپاره ښائست دی

اصل خبره دا ده چه ږیره د سړي د ښائست، حسن، جمال او وقار نښه ده. حافظ ابن قیم رحمه الله په "التبیان في اقسام القرآن" کښې فرمايي: ږیره د سړي لپاره ښائست او د هغه وقار او تعظیم دی. تر نبي کریم ﷺ څخه زیات ښکلی او ښائسته څوک کیدلی شي. له شک پرته تر نبي کریم ﷺ زیات ښائسته او ښکلی نه څوک پیدا

شوی دی او نه به پيدا شي او د صحيح مسلم شريف روايت دی چه د رسول الله ﷺ مبارکه ږيره ښه ګڼه وه.
(صحيح مسلم، کتاب الفضائل، باب اثبات خاتم النبوة، رقم ۲۰۸۴)

ږيره که چيرته د بد صورتي يا بد رنګي سبب وای نو الله تعالی به هيڅکله د سړي په مخ باندي نه وای را شنه کړې. د الله تبارک و تعالی جلاله مبارک ارشاد دی:

لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِيْ اَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ ○ (التين ۹۵. ۴)

"بې شکه مونږ انسان لره تر ټولو زيات په ښائسته صورت کښې پيدا کړی دی".

همدارنګه الله تعالی جلاله فرمايي چه:

وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيْٓ اٰدَمَ (الاسراء. ۷۰)

"او په تحقيق سره مونږ بني اٰدم ته تکريم (عزت او قدر) ورکړی دی".

او د الله تعالی بني آدم ته تکريم ورکول دا دي چه هغه ئې په اکمل او احسن شکل پيدا کړی دی لکه څرنګه چه ځينو علماوو ويلي دي چه د دې تکريم مثال دا دی چه نارينه وو ته ئې په ږيرې باندې ښائست ورکړی او ښځو ته ئې په کوڅيو باندې لکه څرنګه چه د الله تعالی د رسول ﷺ فرمان هم دی:

سبحان من زين الرجال باللحی و زين النساء بالذوائب
(کشف الخفاء للعجلونی ۱۴۴۷)

"پاک دی هغه ذات چا چه نارینه وو ته په ږیرې او ښځو ته ئې په کوڅیو باندې زینت او ښائست ور بخښلی دی".

نو دا شکل یا بڼه په کوم باندې چه الله تعالی ﷻ انسان لره پیدا کړی دی په دې سره ئې د هغه تکریم کړی دی، دا د الله ﷻ نعمت دی او دا نه شي کیدلی چه د الله تعالی په خلقت کښې بد والی پیدا شي. په دنیا کښې چه څومره شیان جوړیږي هغه د جوړوونکي د ستاینې سبب ګرځي. نو د الله تعالی په تخلیق کښې څو نقص او بد والی کیدلی نه شي لکه څرنګه چه رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

کل خلق الله عز و جل حسن.

(صحیح الجامع ۴۵۲۲، والسلسلة الصحیحة ۱۴۴۱)

"د الله ﷻ تخلیق حسن (ډیر ښه) دی".

نو ټولو مسلمانانو دې خبرې ته په کتو سره چه دا یو خدایي ښائست دی د دې ئې ډیر قدر او تعظیم کړی دی. خدای دې وکړي چه د نن صبا مسلمانان ئې هم قدر وکړي او خپلې څیرې په خدایي ښائست باندې ښائسته کړي. (آمین)

## د ږیرې خریل له ښځو سره مشابهت دی

د ږیرې خریل لکه څرنګه چه له کفارو سره مشابهت دی همدارنګه د ښځې د جوړیدو د خواهش پوره والی هم دی. الله تعالی د ښځې او نارینه تر منځ ږیره فارق (جلاوالی) ګرځولی دی لیکن د نن صبا مسلمانانو د ږیرې په خریلو سره

د ښځې د جوړېدو شوق په جګ آواز سره ښکاره کړی دی. په داسې حال کښې چه له ښځې سره دا ډول يو شان والی د لعنت وړ ګڼل شوی دی. د خدای رسول ﷺ فرمايي:

لعن الله المتشابهات من النسآء بالرجال و المتشبهين من الرجال بالنساء.
(صحيح الجامع ۵۱۰۰)

"په هغو ښځو باندې د الله تعالی ﷻ لعنت دی چه له سړو سره مشابهت کوي، او په هغو سړو باندې لعنت دی چه له ښځو سره مشابهت (يو شان والی) کوي.

او دا ئې هم وفرمايل:

ليس منا من تشبه بالرجال من النسآء و لا تشبه بالنسآء من الرجال.
(صحيح الجامع ۵۴۳۳)

"چه کوم سړی له ښځو سره مشابهت کوي او چه کومه ښځه له سړو سره مشابهت کوي هغه له مونږ څخه نه دي".

او په رښتيا هم هغه سړی به څرنګه د رسول الله ﷺ په طريقې باندې برابر وي؟ الله تعالی هغه ته ږيره ورکړه چه له ښځې سره ئې فرق وشي ليکن هغه د ږيرې په خريلو سره د الله ﷻ خلقت بدل کړ او د مخنث (نرښځي) شکل ئې غوره کړ او د لعنت مستحق ئې ځان جوړ کړ. د الله تعالی رسول نبي کريم ﷺ فرمايي:

لعن الله المخنثين من الرجال و المترجلات من النساء. (صحيح الجامع ۵۱۰۳)

"د الله تعالی لعنت دی په هغو سړو باندې چه له ځانه مخنث جوړوي او په هغو ښځو باندې چه د نارينه جوړېدلو کوشش کوي".

له دې خبرې څخه د خلکو د لرې ساتلو په خاطر نبي کریم ﷺ نارینه د ښځینه جامو له اغوستلو څخه منع کړل او وئي فرمایل:

لعن الله الرجل يلبس لبسة المرأة و المرأة تلبس لبسة الرجل.

(صحيح الجامع ٥٠٩٥)

"د الله تعالی ﷻ لعنت دی په هغه نارینه باندې چه د ښځو جامه اغوندي او په هغې ښځې باندې چه د نارینه وو جامه اغوندي".

نو چه کومه ښځه مصنوعي ږیره ولګوي هغه له سړو سره مشابه کیږي او همدارنګه چه کوم سړی خپله ږیره پاکه وخریي نو هغه له ښځې سره مشابه ګرځي او د داسې سړي په باره کښې که چیرته له یوه عام مسلمان څخه پوښتنه وشي نو هغه به فوراً ځواب ورکړي چه دا مخ د ښځې یا د هلک یا یهودي او نصراني مخ دی. چه علماء کرامو د المخنث (نرښځتوب) د اصطلاح اطلاق پرې کړی دی. لکه څرنګه چه حافظ ابن عبد البر په "التمهيد" کښې لیکلي دي:

ويحرم حلق اللحية و لا يفعله الا المخنثون من الرجال.

"د ږیرې خریل حرام دي او دا کار یواځې د نرښځیانو (هیجړا ګانو) دی".

الله تعالی چه د سړي او د ښځې تر منځ کوم امتیازات او فرقونه ایښي دي له هغو څخه یو امتیاز

او فرق ږيره ده. د ږيرې په خريلو سره ښائستوالی نه بلکه له ښځو سره يو شان والی پيدا کيږي کوم چه په اسلام کښې ناجائز د نارينتوب خلاف دی.

## د ږيرې د پريښو د لو د نيوي ګټې

په قدرتي توګه د الهي فطرت مطابق چه کوم انساني هيئت او تخليق دی په هغه کښې ډير عقلي او طبي مصلحتونه او ګټې دي او دا يواځې د شريعت مسئله نه بلکه د سالم فطرت مسئله هم ده. له دې امله د ږيرې خريل يواځې له شريعت څخه مخ ګرځول نه بلکه له انساني فطرت او عقل څخه د رشتې له پرې کولو سره هم برابره ده. همدا وجه ده چه د مخکښينۍ زمانې لوی لوی حکيمان، طبيبان او فيلسوفان لکه افلاطون، سقراط، بقراط، ارشميدس اوداسې نورو په عکسونو کښې اوږدې اوږدې ږيرې تر سترګو کيږي. يواځې دا نه بلکه ږيره تر ۱۹ پيړۍ پورې په اروپا کښې هم د عوامو او خواصو شعار ګڼل کيده.

د ږيرې په اړه اوس ډاکټرانو هم دا خبره منلې ده چه په اصل کښې خداوند متعال ږيره زمونږ د زنې او غاښونو د حفاظت لپاره پيدا کړې ده، ږيره يو ګټور شی دی چه له مخې ئې مونږ د زنې او غاښونو له ډيرو تکليفونو او مرضونو څخه محفوظ پاتې کيدلی شو. د واشنګټن يو مشهور ډاکټر "اے ميکډانلډ" د خپلو نويو تحقيقاتو له

مخې لیکلي دي چه ما په دې برخه کښې په **۳۵** مضبوطو او تندرستو کسانو باندې چه عمرونه ئې د **۲۵** او **۴۵** کلونو ترمنځ وو تجربه وکړه، لومړی هغو ږیرې پریښې وې او وروسته ئې بیا خریل شروع کړل. نتیجه دا ترې ووته چه په هغو کښې څوارلس کسه روغ پاتې شول او پاتې یو ویشت کسه ټول د غاښونو او زنې په مرضونو ګرفتار شول.

یو بل امریکنی ډاکټر "چارلس هوم" لیکي:

"زه نه پوهیږم چه آخرد ږیرې له نامه څخه خلک ولې ریږدي. خلک چه کله پخپل سر باندې ویښته پریږدي نو بیا په مخ باندې د ویښتانو په پریښودلو کښې څه عیب دی. د چـــا په سر کښې که چیرته د کومې برخې ویښته له منځه لاړ شي نو هغه ته د پکوالي (ګنجي توب) د اظهـــــار له امله شرم ورځي. لیکن دا عجیبه تماشا ده چه خپله ټوله ځیره پخپلــه خوښه ګنجي کوي او ځـــــان له ږیرې څخه محروموي، لــږ غوندې هـــــم نه شرمیږي ځکه چـــه ږیره د نارینتوب تر ټولو ښکاره نخښــه ده. اوږده او ګڼه ږیره غړی د یخ له اثراتو څخه ساتي. ږیره لرونکی انسان د خپلې ږیرې تل خیال ساتي. په دې کښې یو داسې ناز او نزاکت دی چه د نارینه شان او شوکت پکښې نغښتی دی".

د یونـــاني طـــب مـــاهرینو خـــو لـــه مخکښـــې څخـــه دا فیصـــله کـــړې وه چـــه ږیـــره د نارینـــه لپـــاره ښائســـت او د

سینې او غاړې لپاره لويه محافظه او ساتونکې ده.
اوس د ځینو نورو ډاکټرانو رائې هم ملاحظه کړئ:

《۱》 یو ډاکټر لیکي چه په ږیرې باندې له هر وخت چړې تیرولو څخه د سترګو په رګونو باندې اثر لویږي او سترګې کمزورې کیږي.

《۲》 یو بل ډاکټر لیکي چه کښتنۍ ږیره هغه جراثیم چه صحت ته تاوان رسوي پخپل ځان کښې را نیسي او مرۍ او سینې ته ئې له رسیدو څخه مخنیوی کوي.

《۳》 یو بل ډاکټر تر دې پورې لیکي چه که چیرته تر ۷ نسلونو پورې په نارینه وو کښې د ږیرې د خریلو عادت پاتې شي نو اتم نسل ئې بې ږیرې پیدا کیږي. د دې مطلب دا دی چه په هر نسل کښې د مادۀ منویه په کمیدو سره په اتم نسل کښې یو مخ له منځه ځي.

《۴》 ډاکټر هومر د ږیرې خریل د ښځې ګنجي توب، د فیشن غلامي او زنانه خصلت بولي. د ده په نزد استقلال، شجاعت (زړورتوب)، حوصله، همت او د ټولو مردانه خصلتونو او ښائست مدار ږیره ده. دی د ټوخې، نزله او داسې نورو مرضونو سبب د ږیرې خریل ګڼي.

《۵》 ږیره د ووړیو له عوارضو او مرضونو څخه سړی محفوظ ساتي.

《۶》 دږیرې د هر وخت غوړولو له وجې د مخ څرمن تل تازه وي.

﴿ ۷ ﴾ د هوميو پيتک د علاج د مشهور کتاب "کورني علاج" په ۵۱۳ مخ کښې راغلي دي چه د ږيرې په اوږدولو سره د خناق غوندې له خطرناکې بيمارۍ څخه سړی محفوظ پاتې کيږي.

﴿ ۸ ﴾ د طبي اعتبار له مخې دا ثابته ده چه د نارينه په مخ باندې د ږيرې را شنه کيدل د مذکر (نر) هارمون (Testosterone) اثر وي. نو هغه مرضونه کوم چه د نارينه په نارينتوب باندې بد اثر کوي (Demaseulenization) هغه پواڅې د مخ د ويښتانو په لرې کولو سره منځ ته راځي. ګوا که ږيره د نارينه لپاره د کيميا نسخه ده، په داسې حال کښې چه که چيرته د ښځې په مخ باندې ويښتان را شنه شي نو دا د هغې د انوثيت (ښځتوب) د کمزورۍ (Defeminization) سبب ګرځي، يا بيا په هغې کښې د رجالي مرضونو (Virilization) يا د مذکر (نر) جوړيدو (Maseulinization) اثرات پرې راځي او په دې مرضونو کښې تر ټولو ښکاره مرض الشعرانية (Hirsutism) يعني په ځينو داسې ځايونو باندې د ډيرو ويښتانو را شنه کيدل شروع شي چه نه له ږيرې سره تړاو لري او نه له بريتونو سره بلکه د بدن په نورو برخو باندې کوم چه د مرض د کيدو تر څنګ د عامو خلکو په نزد يو بد شی هم ګڼل کيږي.

﴿۹﴾ د ږيرې په خريلو سره د مخ او خولې عضلات کمزوري کيږي چه له امله ئې په انسان کښې د مدافعت قوت کمزوری کيږي.
﴿۱۰﴾ دواشنګټن مشهورډاکټر"اے ميکډانلډ"پخپلو تحقيقاتو کښې ليکي چه ږيرورو ته د کولمو ډير لږ شکايت وي همدارنګه له تجربې څخه ثابته شوې ده چه د ږيرې په پرله پسې خريلو سره د انسان عمر کميږي او تر وخت مخکښې مړ کيږي.
لږ غوندې د سردار عالم، طبيب اعظم رسول الله ﷺ په دې وېناوو باندې کوم چه په ظاهره د مسئلې په شکل کښې تاسو ته ډير معمولي ښکاريږي ليکن په حقيقت کښې څومره طبي او دنيوي ګټې پکښې پټې دي چه زمونږ د صحت او تندرستي انحصار (چارپيروالی) په همدې باندې موقوف دی.
که چيرته مونږ د ږيرې پرېښودلو ته په خريلو باندې ترجيح ورکړو نو نه يواځې دا چه د نبوي ﷺ د سنتو په پيروي سره روحاني خوشحالي او اخروي درجې حاصلې کړو بلکه په طبي لحاظ سره هم له بې مثاله ګټو څخه برخمن کيږو.

## د ږيرې يو څو عام فضيلتونه

شيخ ابو طالب المکي په قوت القلوب ج۴، ص۹ کښې ليکي:

وقال بعض الادباء في اللحية خصال نافعة منها تعظيم الرجل و النظر اليه بعين العلم و الوقار و منها رفعه في المجالس و الاقبال عليهم و

منهـا تقديمـه علـى الجماعـة و تعقيلـه و فيهـا وقايـة للعـرض يعنـى اذا ارادوا شتمه عرضوا له بها فوقت عرضه.

یعنې د ځینو ادیبانو خبره ده چه د ږیرې په پرېښودلو او اوږدولو کښې څو ګټې دي لکه لومړی دا چه د خلکو په نظر کښې د ږیره لرونکي سړي عزت وي، دویم دا چه یو علمي او له وقاره ډک سړی ګڼل کیږي، دریم دا چه په مجلسونو کښې د هغه د تعظیم په خاطر په لوړ او ښکاره ځای کښې کښینول کیږي او ټول ورته متوجه وي، څلورم دا چه په جماعت او داسې نورو کښې وړاندې کیږي. پنځم دا چه په دې کښې د هغه د عزت حفاظت وي ځکه چه کله یو څوک هغه ته د بد رد ویلو اراده وکړي نو ږیرې ته ئې په کتو سره حیا ورځي او په دې ډول سره د هغه عزت ساتل کیږي.

حافظ ابن قیم په التبیان في اقسام القرآن ص۲۳۱ کښې فرمائي:

و اما شعر اللحية ففيه منافع منها الزينة و الوقار و الهيبة و لهذا لا يرى على الصبيان و النساء من الهيبة و الوقار ما يرى على ذوى اللحى و منها التمييز بين الرجال.

یعنې د ږیرې په اوږدولو کښې ډیرې ګټې دي. د مثال په توګه په دې کښې د نارینه لپاره ښائست دی او د هغه وقار او تعظیم پکښې دی او په دې سره د هغه هیبت ظاهریږي. له دې امله په هلکانو او ښځو کښې هغه هیبت او وقار نه لیدل کیږي کوم چه د ږیرې په پریښودونکي خلکو کښې تر سترګو

کیږي. په ږیرې سره د ښځې او نارینه تر منځ فرق او پیژندګلوي راځي.

**له یوه موټي څخه د زیاتې شوې ږیرې د پرې کولو حکم**

**پوښتنه**: ږیره چه کله له یوه موټي څخه اوږده شي نو پریکول ئې روا ده او که نه؟

**ځواب**: له موټي څخه د زیاتې ږیرې پرې کول روا دي.په دې باره کښې څو حدیثونه ملاحظه کړی:

عن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده ان النبی ﷺ کان یاخذ من لحیته من عرضها و طولها.

(ترمذی ج ۲، ص ۱۱۸، باب ما جاء فی الاخذ من اللحیة، طبع قدیمی کتب خانه)

"حضرت عبد الله ابن شعیب رضی الله عنه له خپل پلار او هغه له خپل پلار څخه روایت کوي چه نبي کریم ﷺ د خپلې ږیرې مبارکې له اوږدوالي او پلنوالي څخه (له قبضې یا موټي څخه زیات شوي) ویښتان پرې کول".

په "شرح شرعة الاسلام" کښې دي چه:

(و اعفاء اللحیة) ای تکثیرها و المراد منه عدم المبالغة فی الجز. (فانه) ای النبی ﷺ (کان یاخذ من عرضها و طولها) اذا زاد علی قدر القبضة (و) کان یفعل (ذلک الاخذ فی الخمیس او الجمعة) و لا یترکه مدة طویلة فوق الاسبوع.

و اعلم ان النبی ﷺ قال اعفوا اللحی و احفوا الشوارب و اراد به النهی عما یفعله الاعاجم و الافرنج من قص اللحیة ای قطع کلها و توفیر الشارب فانه

مکروه صرح به زین العرب وغیره رحمهم الله تعالٰی و هذا لا تنافي ما رواه عن عمرو بن شعیب رضی الله عنه من انه ﷺ کان یأخذ من لحیته طولاً وعرضاً اذا زاد علی قدر القبضة کذافی التنویر.

(شرح شرعة الإسلام ص ۲۰۷)

"په حدیث کښې د ږیرې د اوږدولو چه کوم حکم شوی دی له هغه څخه مراد دا دی چه په پرې کولو کښې ئې له مبالغې څخه کار وا نه خیست شي، ځکه چه پخپله نبي کریم ﷺ د ږیرې مبارکې ویښتان له اوږدوالې او پلنوالي څخه کمول او دا کمول به ئې هغه وخت کول کله چه به ئې ږیره مبارکه تر قبضې (موټي) څخه زیاته شوه. او هغه ﷺ دا کار یعنې د خپلې ږیرې مبارکې له اوږدوالي او پلنوالي څخه کموالی به ئې د پنجشنبې یا جمعې په ورځ کاوه.

او په دې هم پوه شئ چه د نبي کریم ﷺ د دې فرمان څخه چه "ږیرې اوږدې کړی او بریتونه لنډ کړی" مقصد د عجمیانو او فرنګیانو غوندې د ږیرې له کمولو او لنډولو څخه د خلکو منع کول دي. ځکه چه دا کار ښه نه دی او دا له هغه روایت سره هم تکر دی چه په هغه کښې راغلي دي چه نبي کریم ﷺ به د خپلې ږیرې له اوږدوالي او پلنوالي څخه هغه وخت څه ویښتان پرې کول چه ږیره به ئې له قبضې څخه زیاته شوه".

په عالمګيري کښې دي چه:

وَالقصر سنة فيها وهو ان يقبض الرجل لحيته فان زاد منها على قبضة قطعه كذا ذكر محمد رحمه الله.

(الفتاوى الهندية ج ۴، ص ۲۲۹، او امداد الفتاوى ج ۴، ص ۲۲۰)

"او قصر پکښې سُنت دی او هغه داسې چه سړی خپله ږيره په موټي کښې ونيسي چه کوم ويښتان ترې زيات شي هغه پرې کړي. امام محمد رحمه الله هم همداسې ويلي دي".

## ږيره بايد له دريواړه خواوو څخه يو يو موټی وي

**پوښتنه**: ږيره بايد يواځې له ښکته خوا څخه يو موټی وي او که له هرې خوا څخه يو موټی والی ئې ضروري دی؟

**ځواب**: له هرې خوا څخه ئې يو موټی والی ضروری دی يعنې د زنې له لاندې څخه يو موټی بايد ونيول شي او زياتی ئې پرې شي همدارنګه له دواړو خواوو څخه هم بايد له يوه موټي څخه زياتی ئې پرې شي.

## د ږيرې د لنډولو تاريخ

په تاريخ کښې د ږيرې د لنډولو لومړنی ثبوت د لعين شيطان له دې خبرداری څخه وروسته چه ده الله تعالى ته ورکړې وه چه:

وَ قَالَ لَاَتَّخِذَنَّ مِنْ عِبَادِكَ نَصِيْباً مَّفْرُوْضاً ۝ وَلَاُضِلَّنَّهُمْ وَ لَاُمَنِّيَنَّهُمْ وَ لَاٰمُرَنَّهُمْ فَلَيُبَتِّكُنَّ اٰذَانَ الْاَنْعَامِ وَلَاٰمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللّٰهِ (سورة النسآء، ركوع ۱۸)

"او وئې ويل چه زه ستا له بندګانو څخه يوه ټاکلې برخه جلا کومه (په دې ډول چه) زه هغوی ګمراه کومه او هغوی د

اوږدو امیدونو په جال کښې را ګیروم او هغو ته دا تعلیم ورکوم چه د حیواناتو غوږونه پرې کړي او دا حکم هم ورکوم چه د الله تعالی په خلقت کښې تغیّر او تبدّل وکړي".

مفسرینو کرامو د فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللّٰهِ په تفسیر کښې لیکلي دي چه د ږیرې خریل هم د خلق الله په تغیر کښې راځي یعنې د الله تعالی د پیدا شویو شیانو بدلول دي. نو ثابته شوه چه کوم خلک ږیرې خریي هغوی د شیطان حکم په ځای کوي او شیطان هغوی خپل بندګان او خپله تاکله شوې برخه ګڼي. د شیطان د دې خبرداری په ځواب کښې الله تعالی هم دا اعلان وکړ چه:

وَمَنْ يَتَّخِذِ الشَّيْطَانَ وَلِيّاً مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ فَقَدْ خَسِرَ خُسْرَاناً مُّبِيْناً○

"کوم سړي چه (د خدای پیروي پرېښوده او د شیطان د پیروي په کولو سره) ئې شیطان خپل دوست وګانه نو هغه نقصان وکړلوی او ښکاره نقصان". (نعوذ با لله)

## د ږیرې خریل د قوم لوط عمل دی

له تاریخ څخه څرګندیږي چه د شیطان دا حکم په لومړي ځل د لوط علیه السلام قوم په ځای کړ. په غالبه توګه د هغو د هلکانو چه به کله ږیرې راغلې نو د خپل هلک توب د پاتې کیدو په خاطر ئې ږیرې خریلې. په سورت انبیاء کښې د حضرت لوط علیه السلام په کیسه کښې دي:

وَ لُوطاً اٰتَیْنٰهُ حُکْماً وَ عِلْماً وَ نَجَّیْنٰهُ مِنَ الْقَرْیَةِ الَّتِیْ کَانَتْ تَّعْمَلُ الْخَبٰٓئِثَ اِنَّهُمْ کَانُوْا قَوْمَ سَوْءٍ فٰسِقِیْنَ○ (سورة انبیاء، رکوع۵)

"او لوط ﷺ ته مونږ علم او حکمت ورکړ او مونږ هغه ته له هغه کلي څخه نجات ورکړ چه اوسیدونکو ئې ګنده او بد بد کارونه کول، بې له شکه هغه ډیر لوی بد او فاسق قوم وو".

د دې آیت په تفسیر کښې مفسرینو کرامو لیکلي دي چه جناب نبي کریم ﷺ وفرمایل چه:

عشر خصال عملتها قوم لوط بها اهلکوا ایتان الرجال بعضهم بعضاً و شرب الخمور و قص اللحیة و عفو الشارب.

(در منثور ج۴، ص۳۲۴، روح المعاني ج۱۷، ص۳۶، بیان القرآن ج۷)

"د لسو بدو کارونو له امله د لوط ﷺ قوم هلاک شو چه له هغو څخه یو ئې لواطت دی، شراب چښل، د ږیرې خریل او د بریتونو اوږدول هم دي".

## د ږیرې د خریلو او لنډولو حکم

**پوښتنه**: د ږیرې د خریلو او له یوه موټي څخه ئې د کمولو د شریعت له مخې څه حکم دی؟

**ځواب**: د نارینه وو لپاره د ږیرې پریښودل واجب دي او شرعي اندازه ئې یوه قبضه (موټی) ده، د ږیرې پریښودل د ټولو انبیاوو علیهم السلام متفقه او همیشنی سُنت دی، اسلامي او قومي شعار دی. د شرافت او بزرګۍ علامه ده، د لویانو او کوچنیانو ترمنځ د فرق

او متيـاز نښه ده، پـه دې سره د نارينـه شـکل پـوره کيـږي او صـورت ئـې نـوراني کيـږي، د نبـي کـريم ﷺ دائمـي عمـل دی، نبـي کـريم ﷺ دې لـره پـه فطـرت بانـدې تعبيـر کـړی دی او هغـه ﷺ خپـل اُمـت تـه د ږيـرې د پريښـودلو پـه ټينګـار سـره حکـم کـړی دی. لـه دې املـه د ږيـرې پريښـودل واجـب او ضـروري دي، خريـل او لنـډول يـا کمـول ئـې حـرام او کبيـره ګنـاه ده او پـه دې بانـدې د اُمـت اجماع ده.

وعـن ابـن عمـر رضي الله عنهما عـن النبـي ﷺ خـالفوا المشـركين اوفـروا اللحـى واحفـوا الشـوارب وكـان ابـن عمـر رضي الله عنهما اذا حـج او اعتمـر قـبض على لحيته فما فضل اخذ. (بخاری ص۸۷۵، ج۲)

"يعنې حضرت ابن عمر رضي الله عنهما فرمايي چه جناب نبي کريم ﷺ وفرمايل چه د مشرکانو مخالفت وکړئ، ږيرې اوږدې کړئ او بريتونه لنډ کړئ. حضرت ابن عمر رضي الله عنهما چه کله حج يا عمره کوله نو ږيره به ئې په موټي کښې ونيوله پس چه له موټي څخه به زياته شوه نو هغه ئې پرې کوله".

علامه محمود خطاب رحمه الله ليکي چه له دې امله ټولو مجتهدينو امامانو لکه امام ابو حنيفه، امام مالک، امام شافعي، او امام احمد رحمة الله عليهم او داسې نورو په نزد د ږيرې خريل او لنډول حرام دي.

(المنهل ص۱۸۲، ج۱، فتاوی رحيميه ج۲، ص۲۴۵)

حضرت اقدس علامه تهانوي نوّر الله مرقده فرمائي:

د ږيرې پريښودل واجب دي، خريل او له يوه موټي څخه کمول ئې حرام دي.

لقوله عليه السلام خالفوا المشركين اوفروا اللحى متفق عليه و في الدر المختار يحرم على الرجل قطع لحيته و السنة فيها القبضة.

(امداد الفتاوى ج۴، ص۲۲۳)

**د ږيرې خريل دوامداره او خطرناک جرم (گناه) دی**

د ږيرې د خريلو کبيره گناه په يوه اعتبار سره له غلا او زنا څخه هم بدتره او ستخته ده ځکه چې هغه د يوه وخت گناهونه دي ليکن د ږيرې د خريلو گناه د څلوريشتو ساعتونو گناه ده. د ږيرې خريونکي د رسول الله ﷺ دا سُنت (ږيره) هره ورځ په تيرې چړې سره خريي او بيا ئې مردار ځای ته ئې له نورو گندگيو سره اچوي. همدا ډول هغه هره ورځ پرله پسې د يوه فرض په له منځه وړلو سره گنهگاريږي. او په داسې کولو سره د پښيمان کيدلو په ځای دا خپل عمل ښه گڼي او په هنداره (آئينې) کښې خپل مخ ته په کتو سره په دا خپل بد عمل باندې خوشحاله کيږي. په داسې حال کښې چه غل او زاني کله کله گناه کوي او بيا پرې پښيمانه کيږي هم. نو په دې بناء باندې داسې گناه چه په هغې باندې په پرله پسې توگه مداومت (هميشه والی) غوره شي هغه له ټولو گناهونو څخه پورته سخت ترينه گناه جوړيږي.

حضور نبي کريمﷺ فرمائي چه په ښکاره سره له ګناه کوونکو خلکو څخه پرته زما ټول اُمت د عفو لائق دی. کُلُّ اُمَّتِیْ مُعَافِیٰ اِلَّا الْمُجَاهِرِیْنَ (متفق عليه) نبي کريمﷺ د ږيرې خريل، د ښنګرو په پائڅو کښې پټول او د ساز او سرود غږول په هغو بدو کارونو کښې شمار کړي دي چه له وجې ئې د حضرت لوط عليه السلام قوم هلاک کړی شوی دی.

که چيرته يو څوک په پټه زنا کوي او بل ئې په ښکاره کوي يا يو سړی په پټه غلا کوي او بل په ښکاره توګه لار وهي او د حکومت سرکشي کوي نو ښکاره ده چه د دواړو په ګناهونو کښې د آسمان او زمکې فرق دی. له دې امله که يو سړی هر څومره ګناهګار، فاسق او فاجر وي ليکن ظاهري شکل ئې د شريعت خلاف نه وي نو ګناه ئې د پټ والي له امله د ږيرې له خريونکي څخه ډيره کمه ده، د ږيرې خريونکی په ښکاره د شريعت مخالفت کوي او په دُنيا کښې په داسې شکل او صورت کښې ګرځي چه هر سړی ورته وګوري نو فاسق او د شريعت مخالف ئې بولي. (لباس اور بالوں کی شرعی احکام ص۹۳)

**په ږيرې پورې ټوقې او له هغې څخه نفرت د کفر نښنه ده**

د نن زمانې مسلمان له اسلام څخه دومره پردی او اسلام پخپله په مسلمانانو کښې دومره له منځه تللی دی چه خلک د خپل خوږ پيغمبرﷺ په سنتو باندې ټوقې کوي. چه کوم

مسلمان پخپلې خیرې باندې د نبي کریم ﷺ سُنت پرېږدي هغه د مولوي صاحب، صوفي صاحب، ملا او داسې نورو القابو باندې بولي. د هغه د حوصلې د لوړولو په ځای د هغه زړه ماتوي او ږيرور خلک بې عقله او ناپوه ګڼي، له هغوی سره نفرت کوي. دا د دې خبرې ښکاره نخښه ده چه د عامې طبقې خلک د رسول الله ﷺ له سُنتو سره نفرت لري.

په یوه مسلمان باندې یواځې د دین له وجې، د رسول الله ﷺ په سُنتو باندې د عمل کولو له وجې تېوقې کول په اصل کښې په ټول دین باندې مسخرې کول دي کوم چه سر تر پایه کفر دی.

پس کوم خلک چه د صورت د مسخ پر بناء له ږيرې څخه نفرت کوي، هغې ته په سپک نظر ګوري، په ږيره لرونکو خلکو پورې خاندي، په خپلوانو کښې ئې که چیرته څوک ږيره پرېږدي نو منع کوي ئې یا پیغورونه ورکوي. او کوم خلک چه د زوم له ږيرې خریلو پرته له هغه سره د دوستې کولو ته تیار نه وي نو داسې خلک دې پخپل ایمان فکر وکړي، په دوی باندې لازمه ده چه ریښتیني توبه وباسي ځکه چه دا یو خطرناک منزل دی.

### د نبي کریم ﷺ د محبت دروغجنه دعوی

د رسول الله ﷺ فرمان دی چه له کوم شي څخه مو چه زه منع کوم له هغه څخه منع شی..... نو د رسول الله ﷺ په حکم برسیره د ږيرې خریونکی بیا هم د رسول الله ﷺ د محبت دعوه وکړي نو

تاسو ووايئ تر ده دروغجن بل څوک کيدلی شي چا ته چه د نبي کريمﷺ خيره خوند نه ورکوي هغه د محبت او مينې څرنګه دعوه کوي؟ يوه شاعر په دې باره کښې څومره ښه ويلي دي:

وكل يدعي بوصل ليلى　　　　وليلى لا تقر بهم ذاك

"يعنې هر سړی له ليلی سره د تړون دعوه کوي او ليلی ترې انکار کوي چه زما تعلق له هيچا سره نشته".

دا يو دنيوي مثال دی چه ليلی له چا سره تعلق او تړون د دې لپاره نه قبلوي او نه اقرار کوي ځکه چه د هغې به خپل يو څو شرطونه وي ليکن ووايئ چه د رسول اللهﷺ حکم و نه منل شي او د هغه مبارک شکل ئې خوښ نه شي او بيا ووائي چه زما له رسول اللهﷺ سره محبت دی. نو دا د محبت په جامه کښې دښمني ده. او بيا د دښمنۍ په کولو سره دا هيله هم مسلمان لري چه په قيامت کښې به زه د رسول اللهﷺ په لاس د حوضِ کوثر اوبه څښم.

همدارنګه د هر شي د لاس ته راوړلو لپاره مخکښې له مخکښې څه هڅه او هاند ضروري وي. نو انسان د نجات او خلاصون غوښتونکی هم دی بيا هغه شيان چه د دې لاس ته راوړنې اسباب مهيا کوي له هغو څخه لرې ګرځي نو خلاصون امکان نه لري لکه څرنګه چه يوه شاعر ويلي دي:

ترجوا النجاة ولم تسلك مسالكها　　　　ان السفينة لا تجری علی اليبس

"د نجات هيله هم لرې او بيا د نجات په لارو باندې هم نه ځې، کشتۍ په وچې باندې نه شي چليدلی".

لکه څرنګه چه کشتۍ په وچې باندې نه شي چليدلی او
مغې لپاره د اوبو موجودوالی ضروري ده همدارنګه تر هغو
رې نجات (خلاصون) هم ممکن نه دی تر څو پورې چه نيک
ملونه د رسول الله ﷺ د حکم او عمل مطابق نه وي.

### د ږيرې خريل له تقوٰی سره ټکر دی

د مسلمان لپاره د ږيرې خريل يا بل ته ور خريل ټول له
وٰی سره ټکر دی. پروفيسر رفيع الله شهاب د تفسير عزيزي
حواله په لاندې ډول د تقوٰی ډولونه بيان کړي دي.

۱﴾ له شرک څخه اجتناب

۲﴾ له ګناه څخه پرهيز

۳﴾ او له مشتبه کارونو (چه حراموالی او حلالوالی ئې په
ک کښې وي) څخه څنګ کول

او دا دريمُ ډول حقيقي تقوٰی ده او په همدې سره د ولايت
تبه هم حاصليدلی شي. (تفسير عزيزي ص۸۱)

### افسوس! د ثقافت په ميدان کښې مسلمانانو د اروپا په مخکښې سرونه ټيټ کړي دي

څومره د افسوس ځای دی چه چيرته د جهاد په ميدان
ښې مسلمانانو د اروپا نيم ملکونه فتح کړل او د اسلام د
رې په مخکښې ئې ټول يورپ سر ټيټی کړ ليکن نن په

ثقافت کښې تقریباً د ټولې اسلامي نړۍ تهذیب د اروپائ
تهذیب په مخکښې سر ټیټ کړی دی. فاعتبروا یااولی الابصار

قیامت ہے کہ حبل اللہ سے ہٹ کر اٹھا مسلم
اور انگریزوں کی بودی بے بٹی رسی سے جالٹکا

"قیامت دی چه مسلمان را پورته شو او د خدای رسۍ
ئې پریښوده، او د انګریزانو کمزورې او بې بنیادې رسۍ
پورې ئې لاسونه ونیول".

**د ږیرې سپکاوی کفر دی**

حضرت حکیم الامت اشرف علي التهانوي رحمه الله لیکي:

"چه کله د دې (د ږیرې د خریلو) ګناه ثابته شوه نو کوم خلګ
چه په دې ګناه باندې اصرار کوي او خوښوي ئې او د ږیر
اوږدول ځان ته عیب ګڼي او بد ئې بولي نو له داسې ټولو کارو
سره د ایمان روغ پاتې کیدل ډیر مشکل دي. په داسې خلګ
باندې واجب دي چه له داسې حرکت څخه توبه وباسي او خپ
ایمان او نکاح دې بیرته نوي کړي او خپل شکل دې د الله جل جلاله
د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم د حکم موافق جوړ کړي".

همدارنګه مخکښې فرمایي:

"خلک د ږیرې خریل ښائست ګڼي په داسې حال کښې
ښائست نه بلکه تهجین(بد صورتي) دی. که خدای مکړه
ومنو چه ښائست دی نو بیا په روا ګڼلو کښې ئې کوم ښائس
دی، ستاسو په ګمان سره ښائست خو د حرام ګڼلو په حا

شیخ دیان وایي چه: یو بزرګ ښخ کړی شو څه وخت وروسته په هغه ځای باندې د اوبو د راتلو خطره وه نو وارثانو ئې اراده وکړه چه لاش ئې وباسي او بل ځای کښې ئې ښخ کړي. چه کله ئې له قبر څخه خاورې لرې کړې نو د بزرګ په ځای یوه ښائسته نجلۍ پرته وه. یوه سړي وپیژندله چه دا نجلۍ هغه نصرانۍ نجلۍ ده چه پټه مسلمانه شوې وه او بیا په فلاني ځای کښې ښخه شوې وه. هلته وراغلل او قبر ئې وکینده ګوري چه په هغه قبر کښې هغه بزرګ په عیسائي هدیرې کښې پروت وو. وارثانو ئې د حال پلټنه وکړه نو څرګنده شوه چه ده به د جنابت د غسل په اړه ویل چه په دې باره کښې عیسائي مذهب ښه دی ځکه چه په هغه کښې د جنابت غسل نشته. نو یواځې په داسې ویلو سره ئې انجام دا شو چه د عیسایانو په هدیره کښې له عیسایانو څخه وشمیرل شو.

له دې خطرناکې واقعې څخه دا عبرت حاصل کړئ چه د جنابت د غسل تر کولو وروسته یواځې په زړه کښې د ناخوښي په څرګندولو سره بزرګ د مسلمانانو له هدیرې څخه د عیسایانو هدیرې ته وړل شوی وو.

(خیر الافادات)

**د نه دینداري توب له وجې د ږیرې نه پریښودل**

ځينې خلک په ږيرورو خلکو باندې دا نيوکې کوي چه هغوی هم پوره ديندار نه دي. ليکن دا فکر نه کوي چه په دې کښې د ږيرې څه ګناه ده چه بد رد ورته ويل کيږي. په يقين سره پوه شئ چه ږيرور غل نه وي بلکه غله ږيره پريښې وي.

لکه څرنګه چه شيخ التفسير حضرت مولانا احمد علي لاهوري قدس سرّه به فرمايل چه لمونځ کوونکی غل نه وي بلکه غل د لمونځ کوونکي په شکل کښې جومات ته راځي او بوټونه پټوي. آيا د ږيرې خريونکی دا دعوه کولی شي چه له بشري خاميو او معاشرتي بديو څخه پاک دی؟ چه کله نه دی او په يقين سره پاک نه دی نو بايد چه د ږيرورو سپکاوی و نه کړي. هغوی د مبارکی ور دي ځکه چه ستا په مقابله کښې خو هغه خپلې خيرې ته په ږيرې باندې ښائست وربخښلی دی.

بيا دې ږيرور خلک هم د خلکو په سپکاوی سره زړه خفه نه کړي او نه يواځې په دې بهانې باندې د ږيرې له پريښودلو څخه مخ وا نهړوي بلکه پخپل دې عمل سره ښه خوشحاله شي ځکه چه ټوله نيکنامي او کاميابي د نبي کريم ﷺ په طريقو کښې ده.

د رسول الله ﷺ په سُنتو باندې د عمل کولو په لاره کښې مخلوقاتو ته کتل يا د هغو د سپکاوي ويره يا د هغو د

خوشحالولو څه معنٰی؟ مسلمان باید د تل لپاره د الله او ر
هغه د رسول ﷺ د خوشحالۍ او رضا په لټه کښې وي.

تیری رضا میں ہے گر سارا جہاں خفا ہم سے اگر یہی ہے زیاں تب تو کچھ زیاں نہ ہوا

"ستا په رضا کښې که چیرته ټول جهان له مونږ څخه خف
شي، که چیرته همدا تاوان وي نو بیا خو هیڅ تاوان نه دی".

بله دا چه له ږیرورو ورونړو څخه هم دا هیله لرو چه د خپل
اصلاح له فکر څخه هیڅکله غافل نه شي بلکه د ږیرې د
لحاظ په ساتلو سره دې داسې عمل و نه کړي چه خلکو ته د
ګوت نیونې موقع په لاس ورشي.

## د ږیرې خریونکی چه کله په قبر کښې د نبي کریم ﷺ سره مخامخ شي نو په کومو سترګو به ورته ګوري؟

مسلمان باید په دې باندې فکر وکړي چه تر مرګ
وروسته له ټولو مخکښې په قبر کښې له جناب رسول
کریم ﷺ سره مخامخ کیدل دي او له داسې خریلې ږیرې
څخه هغه پاک ذات ته به څومره تکلیف وي د چا په شفاعت
پورې چه د زمونږ د ټولو مسلمانانو هیلې تړلې دي. د نبي
کریم ﷺ مبارک ارشاد دی:

من اذانی فقد اذی الله تعالٰی.

"چا چه ما ته تکلیف را ورساوه په تحقیق سره هغه الله
تعالٰی ته تکلیف ورساوه".

چه کله د کفارو د ږيرې په خريلو سره او د بريتونو په اوږدولو سره نبي کريمﷺ ته تکليف رسيده نو کوم خلک چه ځان ته د هغه امتيان وايي د هغو له دې ناپاک فعل څخه به نبي کريمﷺ ته څومره تکليف وي.

## د ږيرې له خريو نکـو خلکو څخـه په خوب کښې د نبـي کريمﷺ ناخوښي

يوه بزرګ ووېل چه زما يو ملګرى په حکومت کښې په يوې دندې باندې ګومارل شوى ؤ او له ډيرو کلونو وروسته ما ورسره وليدل. څيره ئې له پخوا څخه بدله شوې وه او د سنتو په مطابق ئې ږيره پريښې وه. ما د دې وجه ترې وپوښتله نو هغه ووېل چه په خوب کښې مې قيامت وليد نو خپل ځان مې ډير پريشانه او بدحاله پيدا کړ. خلک مې وليدل چه يوې خوا ته منډې وهي نو ما هم هغې خوا ته منډې شروع کړې. هلته جناب نبي کريمﷺ موجود ؤ او خلکو به مصافحه (په لاس سره سترې مشې) ورسره کوله. چـه کله زما نمبر راغى نو نبي کريمﷺ له ما څخـه مخ واړاوه. په دې باندې زه ډير سخت خفه شوم او پوښتنه مې وکړه چـه څه وجه ده؟ نو نبي کريمﷺ وفرمايل چه ستا شکل زما غوندې نه دى. چـه کله را ويښ شوم نو له هغې ورځې څخه مې ږيره پريښودله.

## د نبي کریم ﷺ د ایران د بادشاه د دوو ږیرې خریونکو قاصدانو څخه کرکه

حضرت سرور کائنات ﷺ د ږیرې له خریونکي څخه دومره کرکه کوله چه کله د ایران د بادشاه دوه قاصدان د نبي کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شول نو د هغوی ږیرې خریلې وې او بریتونه ئې اوږده ؤ. لکه څرنګه چه د تاریخ په کتابونو کښې لکه تاریخ طبري، تاریخ الخمیس، البدایه و النهایة او سیرت حلبیه کښې دي چه:

و کان علی ذی الفرس من حلق لحاهم و احفاء شواربهم فکره ﷺ النظر الیهما و قال ویلکما من امر کما بهذا؟ قالا امرنا ربنا یعنیان کسری، فقال رسول الله ﷺ و لکن ربی قد امرنی باعفاء لحیتی و قص شاربی.

"یعنې دغو دواړو قاصدانو د مجوسیانو (اور پرستو) غوندې خپلې ږیرې خریلې وې نو حضور اقدس ﷺ ته د هغوی دا بد او مکروه شکل ډیر بد ور ولګید او و ئې فرمایل چه په تاسو دې هلاکت وي تاسو ته چا د داسې مکروه شکل د جوړولو امر کړی دی؟ هغوی وویل چه زمونږ رب یعنې کسری. نبي کریم ﷺ وفرمایل لیکن زما رب خو ما ته د ږیرې د اوږدولو او د بریتونو د کمولو امر کړی دی.

(حیاة الصحابه ج۱، ص۱۳۲، البدایة و النهایة ج۴، ص۲۶۹)

حضرت مولانا مفتي ولي حسن ټونکي صاحب دامت برکاتهم العالیه لیکي:

"غور وکړئ! هغوی دواړه میلمانه ؤ، کافران ؤ، زمونږ د مذهب پابند هم نه ؤ لیکن لکه څرنګه چه د هغوی دا بد صورت د سلیمه فطرت په خلاف ؤ او د لعین شیطان د حکم په مطابق ؤ له دې امله حضور اقدس نبي کریمﷺ ته د هغوی د دې مکروه او بد شکل لیدل ښه ور و نه لګید، له هغوی څخه ئې مخ واړاوه او د بد دُعا کلمات ئې ورته وفرمایل چه په تاسو دې هلاکت وي. له دې سره سره ئې دا تصریح هم وکړه چه ما ته زما رب د ږیرې د پریښودلو او د بریتونو د کمولو حکم کړی دی.

پس د دهﷺ محبّین امتیان دې باید غور وکړي چه کوم خلک د هغو مجوسیانو متابعت کوي او هره ورځ خپلې ږیرې خریي چه کله د قیامت په ورځ د نبي کریمﷺ د امتي توب په حیث د نبي کریمﷺ په حضور کښې وړاندې کیږي نو په هغه وخت کښې که چیرته حضور اقدس نبي کریمﷺ له هغوی څخه مخ واړوي نو څومره لوی تاوان دی".

## سک مسلمان شو

اعلی حضرت شیر ربانيرحمة الله علیه د یوه سفر په دوران کښې د ریل ګاډي په ستیشن کښې له یوه سک سره مخامخ شو. دهرحمة الله علیه له هغه څخه د نامه پوښتنه وکړه. هغه د سکانو نوم ور وښود. دهرحمة الله علیه وویل چه له شکل څخه خو مسلمان ښکاریږې؟ هغه سک مسلمان شو او د شیر ربانيرحمة الله علیه خبره

ښکاره شوه. لکه څرنګه چې د سک ږیره وه نو له دې امل
هغه رحمة الله علیه ورته وویل چه له شکل څخه خو مسلمان
ښکاریږي.

ګوا که د مسلمان د پیژندګلوي نښه ږیره ده. د ږیرې
خریونکي په باره کښې دا یقیني خبره نه ده چه هغه د
مسلمان وي.

**په ږیرې باندې بحث کوونکي سړي ته غاښ ماتوونکی ځواب**

د حضرت شاه اسمٰعیل شهید رحمة الله علیه په مخکښې یو چا
بحث په دوران کښې وویل چه د ږیرې پریښودل د فطرت
خلاف دي. حضرت شاه صاحب پوښتنه وکړه چه څرنګه؟ هغ
وویل ځکه کله چه انسان پیدا کیږي نو په مخ باندې ئې ږیر
نه وي. له دې امله ږیره باید وخریله شي. حضرت شاه صاحب
وفرمایل چه بیا خو ته خپل غاښونه هم ټول وباسه ځکه چه د
هم د فطرت په خلاف دي. چه کله کوچنی پیدا کیږي نو په خول
کښې ئې یو غاښ هم نه وي. حضرت تهانوي رحمة الله علیه وفرمایل چ
حضرت شاه صاحب ښه غاښ ماتوونکی ځواب ورکړ.

**له خپل ثقافت او تهذیب سره دښمنانه رویه**

په عمومي توګه داسې څرګندیږي چه انسان د نورو
عیب په لټون پسې لګیدلی وي لیکن خپل عیب په نظر
ورځي. نن که چیرته مونږ خپل ګریوان ته سر ټیټ کړو چ

زمونږ په نوي نسل کښې د ځينو نوي ځوانانو دا حالت دی چه اوږده اوږده ويښتان ئې پريښي وي او ږيره بريت ئې دواړه پاک خريلي وي چه په پيژندلو سره ئې سړی پريشانه شي چه ښځه ده او که سړی، کافر دی او که مسلمان؟

شيخ عبد الستار محدث دهلوي رحمه الله پخپل کتاب کښې ليکي چه:

"ما له ډيرو خلکو څخه دا اوريدلي دي چه وايي الله تعالی ستاسو شکلونو او بدنونو ته نه ګوري بلکه ستاسو نيتونو او زړونو ته ګوري او زمونږ په زړونو کښې ايمان او د الله او د هغه د رسول ﷺ محبت دی اګر که په مخونو کښې مو ږيره نشته.

شيخ صاحب د دې په ځواب کښې وايي چه بيشکه الله ستاسو زړونو ته ګوري نو د ستاسو په زړونو کښې د ږيرې په اړه نفرت پيدا کوي او دا امکان هم نه لري چه له دغو شيانو څخه ستاسو زړونه خالي وي. هغه ستاسو په زړونو کښې د هغه شي په باره کښې نفرت ويني کوم چه الله او د هغه رسول ﷺ ته ور خوښ دی او هغه څه شی دی اعفاء اللحيه (د ږيرې پريښودل) دي.

او ستاسو په زړونو کښې له هغو شيانو سره مينه پيدا کوي کوم شيان چه د هغه او د هغه د رسول ﷺ په نظر کښې بد دي او هغه څه شی دی، هغه د ږيرې خريل دي.

او ستاسو په زړه کښې بدي او اعتراض پيدا کوي د هغ
عمل په اړه کوم چه رسول اللهﷺ کړی دی او هغه ستا په م
کښې د ويښتانو را شنه کيدل دي

او الله تعالی په دې باره کښې تر هغه وخته پورې ستاس
په زړونو کښې غم او فکر ويني تر څو چه تاسو ږيره پخپل
ټاکلي وخت خريلي نه وي. بيا ستاسو په زړونو کښې د
اللهﷻ او د هغه د رسولﷺ محبت څرنګه پاتې شو؟

تاسو د خپل رسول له سُنتو سره بغض لرئ (بد ئې
ايسوئ) او خپلې ږيرې خريئ په داسې حال کښې چه رسول
اللهﷺ فرمايي:

من احب سنتي فقد احبني و من احبني كان معي في الجنة.

"چا چه زما له سُنت سره مينه وکړه هغه لـــه ما سر
مينه وکړه او چا چه له ما سره محبت وکـــړ هغـــه به په جنت
کښـــې له ما سره وي".

او يوه شاعر په دې باره کښې څومره ښه ويلي دي:

تعصي الاله و انت تظهر حبه　　هذا محـــال في القياس بديع
لو كان حبك صـادقا لاطعته　　ان المحب لمـن يحب مطيع

"يعنې ته د الله تعالی نافرماني هم کوې او له دې سر
سره خپل محبت هم ښکاروې، داسې نادر (نا آشنا) محبت
زمونږ له فکر څخه لوړ دی، که چيرته ته پخپل محبت کښې
صادق وای نو تا به د هغه خامخا اطاعت کړی وای، ځکه چ

محبّ (محبت کوونکی) د خپل محبوب (له چا سره ئې چه محبت وي) پيروي او فرمانبرداري کوي“.

په دې ضمن کښې دا خبره په ذهن کښې کښينوئ چه ايمان له باطن سره تړاو لري او اسلام له ظاهر سره.

(له محمد يوسف نعيم څخه)

## د افسوس مقام

د افسوس مقام دی چه په نړۍ کښې د مسلمانانو پنځه نوي په سلو کښې د ږيرې غوندې له لوی نعمت څخه محروم دي، په ږيرې باندې د چړې تيرولو لپاره روپۍ هم لګوي او بيا ئې ډيران ته اچوي. تر دې پورې چه کله کله ئې سپکاوی هم کيږي. ياد لرئ! چه د ږيرې سپکاوی کفر دی. لکه څرنګه چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

”کوم سړی چه زما سُنت پريږدي هغه به زما له شفاعت څخه محروم وي او کوم سړی چه زما له سُنتو څخه مخ واړوي هغه له مونږ څخه نه دی“. (مشکوة شريف)

د ږيرې نه پريښودل د الله تعالی په خلاف په ښکاره سرکشي او بغاوت دی، د ږيرې په خريلو سره مسلمان سړی په ښکاره دا اعلان کوي چه ما ته د رسول کريم ﷺ له مبارکې څيرې سره مشابهت (يو شان والی) خوند نه راکوي. څرګنده دې وي چه چټ پټ څيره يا له يوه موټي څخه د ږيرې

کمول د نبي کریمﷺ د سُنتو څرګند مخالفت دی. هر مسلمان ته لازمه ده چه په کلکه ځان ترې وژغوري.

## ږیره له کوم ځایه شروع کیږي؟

**پوښتنه**: ږیره له کومه ځایه شروع کیږي. آیا د سر د خریلو په وخت کښې د سر ویښتان د غوږونو تر نرمیو یا د غوږونو تر منځنۍ برخې او که تر پورتنۍ برخې پوري خریل کیږي تر څو چه د سر د خریلو په وخت کښې سر تر هغه ځایه وخریل شي له کوم ځایه چه د ږیرې حد شروع کیږي؟

**ځواب**: تر ټیکونو لاندې یعنې د غوږونو د منځنۍ برخې سره برابر چه کوم هډوکی لږ غوندې را وتلی ښکاریږي ږیره له همدې ځایه شروع کیږي او تر دې پورته په سر کښې شمار دی. پس د سر خریل تر خپل حده پورې صحیح دی او د ږیرې تر حده پورې ئې خریل صحیح نه دي.

(امداد الفتاوی ج۴، ص۲۲۱)

## د رخسار (باړخو ګانو) د ویښتانو حکم

**پوښتنه**: د باړخو د ویښتانو لرې کول څه حکم لري؟

**ځواب**: د ژامې په هډوکي باندې چه کوم ویښتان دي هغه په ږیره کښې شامل دي. د ژامې تر هډوکي پورته له کومه ځایه چه رخسار (باړخو) شروع کیږي د هغو برابرول او د لیکې جوړول صحیح دي ځکه چه د باړخو ویښتان په ږیره کښې شامل نه دي.

## د مرۍ د ويښتانو حکم

**پوښتنه**: تر زنې لاندې په مرۍ باندې چه کوم ويښتان دي د هغو کمول او خريل څه حکم لري؟

**ځواب**: د مرۍ د ويښتانو کمول او خريل مکروه دي. (بهشتي ګوهر)

و في الشامية قال: و لا يحلق شعر حلقه و عن ابي يوسف لا بأس به. (شامي ص۲۸۸، ج۵، کتاب الحظر و الاباحة)

## د لانديني شونډې لاندې چه کومه وړه ږيره ده د هغې حکم

**پوښتنه**: د هغې وړې ږيرګۍ يعني تر شونډې لاندې د زنې پر سر چه کوم ويښتان وي، همدارنګه د دې وړې ږيرګۍ دواړو خواوو ته چه کوم ويښتان دي د هغو څه حکم دی، آيا د ږيرې په حکم کښې دي او که نه؟

**ځواب**: وړه ږيرګۍ د ږيرې برخه ده او حکم ئې د ږيرې دی، د ږيرګۍ او د هغې په دواړو خواوو کښې د ويښتانو خريلو ته فقهاوو بدعت ويلی دی. (بهشتي ګوهر)

و في الشامية قال: نتف الفنبكين بدعة و هما جانبا العنفقة و هي شعر الشفة السفلى كذا في الغرائب.

(شامي ج۶، ص۴۰۷، کتاب الحظر و الاباحة)

## د سپينو ويښتانو د ايستلو حکم

**پوښتنه**: که چيرته د چا عمر کم وي د مثال په توګه ۳۰ يا ۳۵ کاله عمر ئې وي او په ږيره کښې ئې يو يا دوه تاره سپين ويښته په نظر راشي نو ايستل ئې ورته څنګه دي؟

**ځواب**: د يوه يا دوو ويښتانو ايستل د ښائست له نيت پرته روا دي، يعني داسې عادت مه جوړوئ چه کله هم سپين ويښته په نظر درشي نو هغه را وباسئ ځکه چه په حديث شريف کښې دي چه سپين ويښته د مؤمن لپاره نور دی.

وفي الشامية قال: ولا بأس بنتف الشيب. (ج٦، ص٤٠٧، حظر والاباحة)

وفي الهندية قال: نتف الشيب مكروه للتزيين لا لترهيب العدو.

(عالمگیری ج٥، ص ٣٥٩)

وروى عن عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده رضوان الله عليهم اجمعين قال قال رسول الله ﷺ لا تنتفوا الشيب فانه ما من مسلم يشيب شيبة في الاسلام الا كانت له نوراً يوم القيامة. (الترغيب والترهيب ج٣، ص ١٨٣)

## د قطع شويو (پرې شويو) ويښتانو حکم

**پوښتنه**: د ږيرې کوم ويښتان چه توی شي يا تر موټې زياتي ويښتان پرې کړی شي نو آيا دا ويښتان چه ښخ شي ښه به وي او که چيرته وا چول شي؟

**ځواب**: که پرې شوي ويښتان وي، يا نوکان وي يا د بدن کومه بله برخه وي بايد چه ټول ښخ کړی شي. او که چيرته ښخ نه شي او په کوم محفوظ ځای کښې واچول شي نو بيا هم روا دی ليکن په مردار ځای کښې ئې مه اچوی ځکه چه د بيماري خطره لري او د انساني اندامونو د درناوي هم خلاف دی. (بهشتي گوهر)

وفي الشامية قال: فاذا قلم اظفاره او جز شعره ينبغي ان يدفنه فان رمى به فلا بأس وان القاه في الكنيف او في المغتسل كره لانه يورث داء.

(ج١، ص٢٨٧، مكتبه ماجديه)

**د ږیرې د راوستو لپاره په مخ باندې د چړې تیرول**

**پوښتنه**: د یوه سړي عمر ۲۳ کاله دی لیکن ږیره او بریتونه ئې نه دي راغلي. هغه د دې احتمال له مخې چه کیدای شي ږیره مې را ووځي په مخ باندې چاړه تیروي. نو آیا دا ورته جائز دي او که نه؟

**ځواب**: د دې ضرورت له مخې په مخ باندې چاړه تیرول جائز دي.

(احسن الفتاوی ج۸، ص۷۷)

**د ږیرې د بد ګڼلو حکم**

**پوښتنه**: د نبوي ﷺ په سُنتو په ځانګړې توګه په ږیرې باندې ټوکې مسخرې کول څه حکم لري؟

**ځواب**: د یوه ډیر کوچني سُنت بد ګڼل یا په هغه پورې ټوکې مسخرې کول په حقیقت کښې د اسلام او پخپله د نبي کریم ﷺ سپکاوی دی. د داسې سړي په کفر کښې هیڅ شک او شبهه نشته. چه کله د سنتو سپکاوی کفر دی نو ږیره خو واجبه او د اسلام شعار دی او له یوه موټي څخه کمول ئې حرام دي. نو له دې امله په ږیرې باندې ټوکې مسخرې کول په طریقهٔ اولی سره کفر دی.

في العلائية قال: و اما الاخذ منها و هي دون ذلک کما یفعله بعض المغاربة و مخنثة الرجال فلم یبحه احد.

(شامیة ج۲، ص۴۲)

داسې سړی دې له سره مسلمان شي او نکاح دې هم له سره وتړي. (ماخوذ له احسن الفتاوی ج۱، ص۴۲)

## ږیرې ته د غوټې د ور اچولو حکم

**پوښتنه**: ځینې خلک ږیرې پریږدي لیکن تاووي ئې او غوټې ور اچوي یا ئې پورته خوا ته ور تولوي. نو آیا شرعاً داسې کول جائز دي او که نه؟

**ځواب**: عن رویفع بن ثابت رضي الله عنه قال قال لی رسول الله ﷺ یا رویفع الحیاة ستطول بک بعدی فاخبر الناس ان من عقد لحیته او تقلدا وتراً او استنجی برجیع دابة او عظم فان محمداً منه بری. (رواه ابو داؤد مشکوٰة ص ۴۳)

له رویفع بن ثابت څخه روایت دی چه نبي کریم ﷺ ورته وویل چه تر ما وروسته کیدای شي ستا عمر اوږد شي نو خلکو ته خبر ورکړه چه کوم سړی خپلې ږیرې ته غوټې ور اچوي یا ئې پورته خوا ته ور تولوي یا د تار کړۍ ور واچوي (په تار سره ئې وپیي) یا په خوشایو او هډوکو باندې استنجا ووهي نو محمد ﷺ له داسې سړي څخه بیزاره دی.

نو څرګنده شوه چه د ږیرې د کښته پریښودو پر ځای پورته تولول یا غوټې ور اچول سخته ګناه ده. له دې امله باید پخپل اصلي حالت پریښودل شي.

## د ږیرې ویښتان باید په جومات کښې و نه لویږي

ځینې خلک له اوداسه او داسې نورو وروسته د ږیرې د ویښتانو د سمولو لپاره په جومات کښې ږیره ږمنځوي. نو د شریعت له مخې په دې کښې څه بدي نشته لیکن دا خبره دې په پام کښې ونیول شي چه ویښتان په جومات کښې و نه لویږي.

که کوم ويښته مات شي يا ولوېږي نو په جيب کښې ئې واچوئ او بيا ئې وروسته په محفوظ ځای کښې کښېږدئ ځکه چه د جومات د پاکوالي او صفائي خيال ساتل ډېر ضروري دي.

**د د ندې د تر لاسه کولو لپاره د ږيرې د خرېلو حکم**

**پوښتنه**: ځينې خلک وائي چه ږيره د دې لپاره خريو تر څو چه ښه سرکاري نوکری يا دنده را ته پيدا شي، که چيرته ږيرې پرېږدو نو نوکری لاس ته نه راځي. نو آيا د نوکرۍ لپاره د ږيرې خريل جائز دي؟

**ځواب**: نوکري يا د حلالې روزۍ د کومې بلې ذريعې په لټولو کښې شرعاً کومه بدي نشته بلکه شريعت مطهره د دې حکم ورکړی دی چه انسان دې د فرائضو تر ادا کولو وروسته د معاش کومه حلاله ذريعه ځان ته غوره کړي. ليکن د روزي او معاش لپاره د پاک شريعت کوم حکم پرېښودل او په حرامو د اخته کيدلو شرعاً هيڅ اجازت نشته. د ږيرې پرېښودل د شريعت له مخې واجب، خريل او له موټې څخه کمول ئې حرام دي. له دې امله د نوکرۍ لپاره د ږيرې د خريلو يا لنډولو د شريعت له مخې هيڅکله اجازه نشته. که چيرته له خريلو پرته نوکري نه حاصلېږي نو بيا به هم په داسې لويې ګناه کښې ځان نه اخته کوئ بلکه په الله تعالی توکل وکړئ او له هغه څخه دُعا وغواړئ او د رزق د پراخۍ انتظار وکړی.

د الله تعالی فرمان دی:

وَ مَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجاً وَّ يَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ وَ مَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ فَهُوَ حَسْبُهٗ. (سورة الطلاق)

"چه کوم سړی له الله تعالی څخه ويريږي او د هغه نافرماني او ګناهونه نه کوي نو الله تعالی د هغه لپاره (له مشکلاتو څخه) د خلاصون لار جوړوي او له داسې ځای څخه هغه ته روزي ورکوي له کوم ځای څخه چه د هغه ګمان هم نه وي او چه څوک هم په خدای توکل او بروسه وکړي نو (د هغه د مشکلاتو د حل لپاره) الله تعالی کافي دی".

نبوی ﷺ ارشاد دی چه:

ولا يحملنكم استبطاء الرزق ان تطلبوه بمعاصی الله.

"يعني تاسو ته دې په ځنډ سره د روزۍ حاصليدل دې خبرې ته تيار نه کړي چه د الله تعالی د نافرمانۍ په ذريعې سره د رزق او روزۍ په طلب کښې شئ"

## د ږيرې پريښودل سُنت دی او که واجب؟

**پوښتنه**: ځينې خلک د ږيرې په اړه وايي چه سُنت دی، که ئې څوک پريږدي خو ښه خبره ده او که ئې نه پريږدي نو څه پروا نه لري. نو آيا په رښتيا هم د ږيرې پريښودل سُنت دي؟

**ځواب**: د ږيرې پريښودل د شريعت له مخې واجب (عملي فرض) دی ليکن ثبوت ئې په سُنتو (حديثو) باندې شوی دی.

د دې لپاره ځېنې خلک سُنت ورته وائي. لکه څرنګه چه شيخ عبد الحق محدث دهلوي رحمه الله ليکي:

هو ما يقال انها سنة فمعناها طريقة مسلوكة في الدين او ان وجوبها ثبت با لسنة. (لمعات شرح مشکوة)

"يعنې دا چه کوم ويل کيږي چه ږيره سُنت ده، د دې مطلب دا دی چه دا يوه اسلامي طريقه ده يا واجب والی ئې په حديثو سره ثابت دی" بلکه هر يو واجب په سُنتو سره ثابت شوی دی لکه څرنګه د دُر مختار په باب الوتر کښې دي:

هو فرض عملا واجب اعتقاداً سنة ثبوتاً ای ثبوته علم من جهة السنة لا القرآن.

"يعنې د وترو د لمانځه د واجب والي ثبوت په سنتو سره شوی دی نه په قرآن سره".

ږيرې ته سنت ويل داسې دي لکه قربانۍ ته چه د ابراهيم عليه السلام سُنت ويل کيږي. پس لکه څرنګه چه قربانۍ ته د ابراهيم عليه السلام په سُنت ويلو سره دا قرباني له فرض والي څخه په وتو سره مستحب نه ګرځي. همدارنګه ږيرې ته په سُنت ويلو سره له واجب والي څخه نه ووځي بلکه خريل ئې حرام پاتي کيږي. د دې لره يواځې سُنت ګڼل او حکم ئې سپک ګڼل ډيره غلطه خبره ده.

**كه چيرته د ښځې ږيره او بريتونه راشي نو څه به كوي؟**

**پوښتنه:** د ښځې لپاره د مخ د ويښتانو لرې كول جائز دي او كه نه؟

**ځواب:** د ښځو لپاره د خپل مخ د ويښتانو لرې كول مكروه دي. هو! كه چيرته ئې د مخ ويښتان د خاوند لپاره د وحشت او كركې سبب جوړيده نو بيا ئې لرې كول ورته جائز دي همدارنګه كه چيرته د كومې ښځې په مخ باندې ږيره او بريت راشي نو پاكول ئې روا بلكه مستحب دي. د ويښتانو په لرې كولو باندې چه كوم لعنت وارد شوى دى هغه د وريځو له شا او خوا څخه د ويښتانو په لرې كولو او د نرۍ ليكې په جوړولو سره راغلى دى.

و فى الشامية: (قوله النامصة) ذكره فى الاختيار ايضاً و المغرب النمص نتف الشعر و منه المنماص المنقاش لعله محمول على ما اذا فعلته لتزين للاجانب و الا فلو كان فى وجهها شعر ينفر زوجها عنها بسببه، ففى تحريم ازالته بعد لان الزينة للنساء مطلوبة للتحسين الا ان يحمل على ما لا ضرورة اليه لما فى نتفه با لمنماص من الايذاء و فى تبيين المحارم ازالة الشعر من الوجه حرام الا اذا نبت لامرأة لحية او شوارب فلا تحرم ازالته بل تستحب.

(شامية ج ٦، ص ٣٧٣، ايچ ايم سعيد كمپنى)

**د خضاب (د ږيرې د تورولو) حكم**

**پوښتنه:** د ږيرې او د سر د ويښتانو تورول (خضاب) څه حكم لري؟

**ځواب:** له تور رنګ څخه پرته د نورو رنګونو خضاب د مجتهدينو علماوو په نزد جائز بلكه مستحب دي او سو

خضاب د خالصو نکريزو يا څه نا څه توروالي ته مائل کوم چه کتم پکښې شامليږي مسنون دی. له جناب نبي کريمﷺ څخه د جمهورو محدثينو په نزد داسې خضاب استعمالول ثابت دي. په صحيح البخاري کښې له عثمان بن عبد الله ابن موهب څخه روايت دی چه مونږ د ام سلمه رضي الله عنها خوا ته وراغلو نو هغې مبارکې زمونږ لپاره د نبي کريمﷺ ويښته مبارک را وايستل. چه و مو ليدل نو په نکريزو او کتم باندې خضاب (رنګولی) شوی وو. (زاد المعاد ج۲، ص۱۲٦)

همدارنګه جناب نبي کريمﷺ ارشاد فرمايلی دی:

ان احسن ما غير تم به الشيب الحناء و الکتم. (رواه سنن الاربعه)

"بهترين رنګ چه تاسو د خپلو سپينو ويښتانو سپينوالی له منځه وړئ نو هغه نکريزي او وسمه دی".

## د تور خضاب حکم

**پوښتنه**: د تور خضاب حکم څه دی؟

**ځواب**: د تور خضاب استعمال که په ږيره کښې وي او که په سر کښې حرام دی لکه څرنګه چه په حديثو کښې د سپينو ويښتانو د بدلولو لپاره د حناء (نکريزې) او کتم (وسمه) د استعمالولو ترغيب راغلی او د خالص تور رنګ په استعمالولو باندې سخت وعيدونه راغلي دي. نبي کريمﷺ ارشاد فرمايلی دی چه په آخره زمانه کښې ځينې خلک راځي

كوم چه د كوترو د لكيو غوندي د تور رنګ خضاب لګوي، دا خلک له جنت څخه دومره لرې ساتل کيږي چه د جنت خوشبوئي هم نه شي محسوسولی. (ابو داؤد، نسائي او احمد)

وعن ابی الدرداء رضی الله عنه مرفوعاً من خضب بالسواد سود الله وجهه يوم القيامة. (رواه الطبرانی وابن ابی عاصم، كنز العمال ج ٦، ص ٦٧١، جمع الوسائل ج ١، ص ١٢٥، اوجز المسالک ج ٦، ص ٣٣٥)

"څوک چه تور خضاب استعمالوي نو الله تعالی به ئې د قيامت په ورځ مخ تور کړي".

عن جابر رضي الله عنه قال اتی بابی قحافة رضي الله عنه يوم فتح مكة و رأسه كالثغامة فقال رسول الله ﷺ غيروا هذا بشئ و اجتنبوا السواد. (مسلم، ابو داؤد، نسائی، احمد)

"يعنې د مکې د فتحې په ورځ حضرت ابو قحافه رضي الله عنه خدمت ته راوستل شو نو سر او ږيره ئې د ثغامه د ونو غوندي سپين وو نو نبي كريم ﷺ وويل چه دا سپين والی په كوم شي سره بدل كړئ ليكن له تور رنګ څخه اجتناب (پرهيز) وكړئ".

يستحب للرجل خضاب شعره و لحيته الی....... قوله و يكره بالسواد.
(الدر المختار علی هامش رد المحتار ج ٦، ص ٣٢٢)

"يعنې د نارينه لپاره د سر او ږيرې خضاب (رنګول) مستحب دی ليكن د تور رنګ خضاب مكروه تحريمي دی".

حضرت اقدس مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله فرمايلي دي چه په سر او ږيرې باندې تور خضاب لګول د شريعت له مخې حرام دي. ځکه چه په کُلي او جُزوي توګه په دې باندې وعيدونه راغلي دي. (ملخص از امداد الفتاوی ج۴، ص۲۱۸)

**د حضرت مفتي عبد الرحيم لاجپوري رَحِمَهُ اللهُ فتوٰی**

**پوښتنه**: که چیرته په ځوانۍ کښې د چا د سر ویښتان سپین شي نو تور خضاب لګول ورته څنګه دي؟

**ځواب**: تور خضاب لګول سخته ګناه ده، په حدیثو کښې په دې باندې سخت وعید راغلی دی.

(فتاوی رحیمیه ج٦، ص٢٩)

**د مجاهدينو لپاره د تور خضاب لګولو حکم**

**پوښتنه**: که چیرته د کوم مجاهد ویښتان سپین شوي وي نو جهاد ته د تلو په وخت په دښمن باندې د رعب د اچولو په نیت تور خضاب استعمالولی شي او که نه؟

**ځواب**: په دُښمن باندې د رُعب د اچولو په غرض سره د جهاد په موقع باندې تور خضاب استعمالول په اتفاق سره مستحسن (ښه کار) دی.

قال في الذخيرة: اما الخضاب بالسواد للغزو ليكون اهيب في عين العدو فهو محمود بالاتفاق. و ان يزين نفسه للنساء مكروه و عليه عامة المشائخ.

(فتاوی شامی ج٦، ص٤٢٢)

وغيروا هذا الشيب و اجتنبوا السواد قال الحموی هذا فی حق غير الغزاة ولا يحرم فی حقهم للارهاب. (فتاوی شامی ج٦، ص٧٤٦)

**چا ته د فریب (دوکې) د ورکولو په غرض د تور خضاب لګول**

**پوښتنه**: د سړي او ښځې یوه بل ته د دوکې ورکولو لپاره د تور خضاب د لګولو حکم څه دی؟

**ځواب**: سړی وي او که ښځه په دوکې سره ځان د ځوان ښکاره کولو لپاره د تور خضاب استعمالول د ټولو مشائخو، علماوو او مجتهدينو په اتفاق سره ناروا او حرام دي. ځکه چه دوکه (فريب) ورکول پخپله يو ځانته حرام کار او د نفاق نخښه ده. د نبي کريمﷺ مبارک ارشاد دی:

من غشنا فليس منا و المکر و الخداع في النار. (رواه الطبراني في الکبير و الصغير باسناد جيد)

"چه کوم سړی مونږ ته دوکه راکړي هغه له مونږ څخه نه دی او مکر او فريب په جهنم کښې دی.

مطلب دا چه دوکه ورکول د مسلمان له شان څخه ډيره لرې خبره ده.

## د خپلې ښځې د خوشحالولو په نيت د تور خضاب د استعمالولو حکم

**پوښتنه**: د خپلې بي بي د خوشحالولو لپاره د تور خضاب استعمالول څه حکم لري؟

**ځواب**: اکثره علماوو او مجتهدينو د دې خبرې تصريح کړې ده چه د بي بي د زړه د لاس ته راوړلو په خاطر د ښائست لپاره د تور خضاب استعمال مکروه تحريمي دی. لکه څرنگه چه په شامي او عالمگيري کښې په صراحت سره راغلي دي چه: و من فعل ذلک ليزين نفسه للنساء و لحبب نفسه اليهن فذلک مکروه و عليه عامة المشائخ.

(عالمگيری ج۵، ص ۲۵۹، شامی ج۲، ص ۲۲۴)

ځینې خلک وایي چه حضرت امام ابو یوسف رحمه الله د ځوانې بي بي د زړه د خوشحالولو لپاره تور خضاب لګول جائز کړي دي او دا قول چه: کما یعجبنی ان تتزین لی یعجبها ان اتزین لها. (فتاوی شامی ج۶، ص۴۲۲) د هغه خوا ته منسوب دی.

د دې خبرې په اړه حضرت حکیم الامت اشرف علي تهانوي قدس سره لیکي: "ځینې خلک د امام ابو یوسف رحمه الله روایت وړاندې کوي لیکن د دې روایت د ثبوت په شرط سره او د هغه د رجوع د نه کولو ځواب دا دی چه: په "شرح عقود رسم المفتي" کښې دا خبره ثابته شوې ده چه کله چیرته په صاحبینو رحمهما الله کښې اختلاف راشي نو له کوم یوه سره چه امام اعظم رحمه الله وي فتویٰ به په هم هغه قول باندې وي، په ځانګړې توګه چه کله هغه قول د صحیح او صریح دلیل له تینګار ځخه هم برخمن وي. د دې لپاره د امام ابو یوسف رحمه الله په قول باندې عمل کول د حنفي مذهب د ثابت شوي اصولو خلاف دی او د صحیح او صریح دلیل د موجودوالي له امله د دیانت هم خلاف دی. (اصلاح الرسوم ص۲۴)

لنډه دا چه لومړی خو له امام ابو یوسف رحمه الله ځخه د دې قول ثبوت یقیني نه دی. بیا له دې قول ځخه د هغه د رجوع احتمال هم قوي دی. نو له دغو دواړو خبرو ځخه صرف نظر وکړئ ځکه چه دا یو غیر مفتیٰ به او مرجوح قول دی.

(احسن الفتاویٰ ج۸، ص۳۷۱)

لکه څرنګه چه د عامو مشائخو کرامو د دې قول خلاف کيدل مخکښې ذکر شول نو له دې امله په دې قول باندې تکيه کول په قطعي توګه صحيح نه دي.

## د جديد هيئر کلر (د ويښتانو نوی رنګ) حکم

نن صبا د "جديد هيئر کلر" په نامه چه کوم د نکريزې رنګ راځي د هغه حکم دا دی چه کوم هيئر کلر چه ويښتانو ته خالص تور رنګ ورکوي هغه نه يواځې دا چه مکروه تحريمي دی بلکه د حديثو له مخې د لعنت او له جنت څخه د محروميدو سبب هم دی. البته کوم هيئر کلر چه ويښتانو ته خالص تور رنګ نه ورکوي بلکه سوروالي ته مائل تور رنګ ورکوي د هغو استعمال له کراهيت څخه پرته جائز دی.

څرګنده دې وي چه دا د هغه هيئر کلر حکم دی چه حرام شيان پکښې ګډ نه وي، که چيرته حرام شيان پکښې ګډ وي نو استعمال ئې په مطلقه توګه حرام دی که ويښتان تور کړي او که نه.

(ماخوذ له "د خضاب شرعي حکم"، د بنوري ټاؤن د دار الافتاء فتوی)

## د تور خضاب د جوړولو حکم

**پوښتنه**: آيا د تور خضاب جوړول يا تيارول څنګه دي په داسې حال کښې چه استعمالول خو ئې حرام دي؟

**ځواب**: د تور خضاب جوړول او بيا ئې خرڅول جائز دي ليکن د اولی خلاف دی ځکه چه د جواز ئې هم يو محل موجود دی. يعنې په دښمن باندې د هيبت د اچولو لپاره د مجاهدينو

استعمالول. ليکن په داسې سړي باندې ئې خرڅول جائز نه دي چه دا يقين ئې وي چه هغه ئې په ناجائزه توګه استعمالوي. کما فی رد المحتار وغيره.

(احسن الفتاوی ج۸، ص۳۷۴)

## د ږيرې د خريونکي آذان او اقامت

**پوښتنه**: آيا د ږيرې خريونکی سړی آذان او اقامت ويلی شي؟

**ځواب**: د ږيرې خريونکی فاسق دی او د فاسق سړي آذان او اقامت مکروه تحريمي دی. که چيرته ئې وکړي نو د آذان بيرته را ګرځول مستحب دي نه د اقامت. مؤذن دې بايد داسي سړی وي چه د شريعت پابند وي.

و يستحب ان يکون المؤذن عالما با لسنة تقيا فيکره اذان الجاهل و الفاسق. (غنية المستملی ص ۳۵۹)

د فاسق د آذان په اړه په شامي کښې راغلي دي چه:

وظاهره ان الکراهة تحريمية. (شامی ج ۱، ص ۳۵۴)

(ماخوذ له احسن الفتاوی ج ۲، ص ۲۸۷/ خير الفتاوی ج ۲، ص ۲۱۰)

## د ږيرې د خريونکي امامت

**پوښتنه**: د ږيرې د خريونکي او کموونکي پسې لمونځ کول څنګه دي؟

**ځواب**: يو موټی ږيره واجبه او ضروري ده، له يوه موټي څخه کمول يا خريل ئې ناجائز او حرام دي. داسې سړی ګناهګار او فاسق دی. د فاسق امامت مکروه تحريمي دی. د دې لپاره داسې سړی امام

جوړول جائز نه دي. که چیرته همداسې یو څوک په زور سره امام جوړ شي یا ئې د جومات کمیټی وټاکي او په لرې کولو ئې څوک قدرت و نه لري نو په کوم بل جومات کښې یو صالح امام ولټوئ. که چیرته نه وي نو جماعت مه پریږدی بلکه په نوموړي فاسق پسې لمونځ وکړئ، ګناه به ئې د جومات د کمیټې په غاړه وي.

صلی خلف فاسق او مبتدع نال فضل الجماعة. (در مختار)

و فی الشامیة افاد ان الصلوة خلفها اولی من الانفراد و لکن لا ینال کما ینال خلف تقی ورع. (احسن الفتاوی ج۳، ص ۲۹۰، خیر الفتاوی ج۲، ص ۳۷۱)

**د ږیرې د خریونکي پسې د تراو یح لمو نځ جا ئز نه دی**

**پوښتنه**: د قرآن د حافظ ږیره که چیرته له یوه موټي څخه کمه وي نو په هغه پسې د تراویح لمونځ کیږي او که نه؟

**واب**: ږ یره له یوه موټي څخه کمول په اتفاق سره حرام دي، ې حا فظ فاسق دی. په فاسق پسې لمونځ کول مکروه ي د ی،، که چیرته د شریعت تابع حافظ پیدا نه شي نو اسوق سړی په تراویحو کښې امام جوړول جائز نه دي. ې د: فاسق په اقتداء کښې د تراویحو د کولو په ځای ه و ړو سورتونو وشي. (احسن الفتاوی ج۳، ص۵۱۸)

**د ږیرې د خریلو اجرت (مزدوره)**

: خریلو په سر د اجرت اخیستلو حکم څه دی؟

ې وي چه خپله ږیره خریل او له یوه موټي م دي همدارنګه د بل سړي د ږیرې خریل

او له يوه موټي څخه کمول ئي هم حرام دي او د ږيرې د خريلو په سر د اجرت (مزدوره) اخيستل هم حرام دي.

(ماخوذ له "ږيره يو اسلامي شعار دی")

## د لاسونو ګناه

و من آفات اليدين حلق رأس المرأة و لحية الرجل و قص اقل من قبضة و لو باذن منه لانه اعانة على معصية فيكون معصية ايضاً.

(شرح طريقه محمديه)

"د دواړو لاسونو له آفتونو (ګناهونو) څخه د ښځې د سراو د سرې د ږيرې خريل يا ئې له موټي څخه کمول دي که دا خريل يا کمول د سړي يا د ښځې په اجازه او خوښې سره هم وي ځکه چه دا د ګناه په کار کښې امداد کول دي او د ګناه په کار کښې امداد کول هم ګناه ده.

همدارنګه په "کشاف القناع" کښې دي چه د ږيرې په خريلو کښې چاته اجرت ورکول او اخيستل دواړه حرام دي.

(کشاف ج۴، ص۹، ماخوذ له "د ږيرې اسلامي حيثيت")

## د ږيرې په خريونکي باندې د سلام اچولو حکم

**پوښتنه**: کوم سړی چه ږيره خريي يا ئې کموي په هغه باندې سلام اچول جائز دي او که نه؟

**ځواب**: ږيره خريل يا ئې له يوه موټي څخه کمول حرام دي او داسې سړی فاسق دی. د فاسق عزت او احترام جائز نه دی او سلام اچول پرې مکروه دی. البته که چيرته له هغه سره

پيژندګلوي يا خپلوي وي نو بايد چه سلام پرې واچول شي تر څو چه پخپل منځ کښې نفرت خپور نه شي او له دين څخه بيزاره نه شي.

وفي الشامية قال: انه يكره السلام على الفاسق لو معلنا و الالا. (شامی ج ۱، ص ۵۱۷)

## د ږيرې د خريونکي د سلام ځواب ورکول

**پوښتنه**: د ږيرې خريونکی که چيرته په چا باندې سلام واچوي نو ځواب بايد ورکړل شي او که نه؟

**ځواب**: د نورو د سلام د ځواب غوندې د ږيرې د خريونکي د سلام ځواب ورکول هم ضروري دي.

كما في الشامية قال: و ينبغي وجوب الرد على الفاسق لان كراهة السلام عليه للزجر فلا تنافي الوجوب عليه تأمل۔ (شامی ج ۱، ص ۲۱۸)

## هر ږيرې لرونکي ته د مولوي ويلو حکم

**پوښتنه**: نن صبا زمونږ په خلکو کښې دا رواج جوړ شوی دی چه د چا په مخ باندې ږيره وي نو هغه ته ملا يا مولوي وايي او کله کله د شرعي مسائلو پوښتنه هم ترينه کوي او چه کله له هغه څخه کوم غلط کار تر سره شي نو د هغه له مخې ټول علماء او ږيرور بدناموي. نو آيا هر ږيره لرونکي سړي ته مولوي جائز دي؟

**ځواب**: مولانا، مولوي او مُلا ډير د ادب الفاظ دي. دا الفاظ د هغو خلکو لپاره استعماليږي چه د ماهرو استاذانو په مخکښې ئې د شاګردي ګونډه وهلې وي او د يوه ټاکلي

وخت په تیرولو سره ئې ځان په نبوي علومو ښائسته کړی وي او له قرآن او حدیثو څخه واقفیت او د شرعي احکامو تجربه ئې حاصله کړې وي.

هر کس او ناکس ته د مولوي او مولانا خطاب کول، په دیني مسائلو کښې د هغه خوا ته رجوع کول، د هغه فعل او قول سند جوړول، دا د ګمراهۍ د یوې خطرناکې دروازې خلاصول دي. د دې لپاره هر چا ته مولوي ویل جائز نه دي.

د دین په معاملاتو کښې هر کس او ناکس مقتدا جوړول، په هغو باندې اعتماد کول هم جائز نه دي. په دې کښې احتیاط کول ډېر ضروري دي. بیا د یوې نیمې غلطۍ له مخې پرته له کومې وجې د علماوو ټولۍ بدنامول، د علماوو او شریعت سپکاوی کول او علماوو ته بد رد ویل سړی کفر ته رسوي.

لما فی العالمگیریة: و یخاف علیه الکفر اذا شتم عالما او فقیها من غیر سب الخ.

همدارنګه کومو کسانو ته چه الله تعالی د خپل ظاهري شکل د شریعت مطابق د جوړولو توفیق ورکړی دی هغوی دې هم باید چه د شریعت په نورو احکامو باندې د عمل کولو پوره کوشش وکړي، د دیني مسائلو معلومات دې له محققو او ماهرو علماء کرامو څخه حاصل. که چیرته یو څوک د دین د کومې خبرې پوښتنه ترې وکړي نو له ځانه د ځواب ورکولو

په ځای دې هغه ته د علماء کرامو خوا ته د رجوع کولو
مشوره ورکړي او يا دې له کوم ماهر مفتي څخه پوښتنه
وکړي او بيا دې داسې ځواب ورکړي چه فلاني مفتي صاحب
دا مسئله داسې بيان کړي ده. له ځانه دې ځواب نه ورکوي او
نه دې د نورو خلکو د مولوي بللو له امله خپل ځان مولوي
وګڼي.

## د بريتونو حکم

**پوښتنه**: د بريتونو د خريلو، لنډولو يا اوږدولو حکم څه دی؟

**ځواب**: د بريتونو په باره کښې جناب نبي کريمﷺ ارشاد فرمايلی دی چه: خالفوا المشركين و احفوا الشوارب و اوفروا اللحی.(بخاری) يعنې د مشرکينو مخالفت وکړی، بريتونه ښه لنډ کړی او ږيرې ښې اوږدې کړی.

په يو بل حديث کښې جناب نبي کريمﷺ د بريتونو د کمولو او د ږيرې د اوږدولو امر فرمائلی دی. لکه څرنګه چه په ترمذي شريف کښې ليکلي دي چه:

ان رسول الله ﷺ امر باحفاء الشوارب و اعفاء اللحية.(ترمذی)

"نبي کريمﷺ د بريتونو په کمولو او د ږيرې په اوږدولو حکم کړی دی".

قال النبی ﷺ من لم يأخذ من شاربه فليس منا.

"نبي کريمﷺ وفرمايل چه کوم سړی چه بريتونه کموي هغه له مونږ څخه نه دی"

د دې په شرح کښې علامه ملا علي قاري رحمة الله عليه فرمائي:

و الظاهر ان معناه تهديد لتارك هٰذه السنة او تخويف له على الموت لغير هٰذه الملة. (مرقات)

له دې حديث څخه څرګنديږي چه د نبي کريم ﷺ د دې وينا مطلب دا دی چه د دې سُنت پريښودونکی وډاروي او دا ويره ور واچوي چه مرګ به ئې د اسلام په ملّت کښې نه وي.

غور بايد وشي چه کله د بريتونو په نه کمولو باندې دومره ويروونکی وعيد دی چه مرګ به ئې د اسلام په ملّت باندې نه وي نو د حديث په دويمې برخې يعنې د ږيرې په نه پريښودو باندې به هم همدغه وعيد وي ځکه چه دا دواړه د يوه حديث جُملې دي.

علامه اشرف علي تهانوي رحمة الله عليه هم په فتاوٰی امداديه کښې همدغه افاده بيان کړې دي. همدارنګه په شمائل ترمذي کښې دي چه حضرت مغيره بن شعبه رضي الله عنه روايت کوي چه نبي کريم ﷺ د حضرت بلال رضي الله عنه اوږده بريتونه پرې کم کړل.

(باب ما جاء في ادامه ﷺ)

**د ږيرې د سپينو ويښتانو په اسلام کښې ارزښت**

د الله تعالٰی پيغمبر نبي کريم ﷺ چه چيرته د ږيرې د پريښودلو حکم کړی دی هلته ئې د ږيرې د سپينو ويښتانو له ايستلو څخه منع هم فرمايلې ده. لکه څرنګه چه نبوي وينا ده:

لا تنتفوا الشيب فانه ما من مسلم يشيب شيبة في الاسلام الا كانت له نورا يوم القيامة. (صحيح الجامع ۷٤٦۳)

"سپین ویښتان مه باسئ، ځکه چه د چا چه په اسلام کښې ږیره سپینه شي هغه به د قیامت په ورځ د هغه لپاره نور وي".

اوس ذا سپین ویښته که په سر کښې وي یا په ږیره کښې وي لکه څرنګه چه حضرت انس رضي الله عنه په واضحو الفاظو سره ویلي دي چه:

يكره ان ينتف الرجل الشعرة البيضاء من رأسه و لحيته. (مسلم ۲۳٤۱)

"د سرې لپاره دا مکروه ده چه د خپل سر یا ږیرې سپین ویښته وباسي".

آن تر دې پورې چه کوم سړي به چه د خپل سر یا ږیرې سپین ویښته را و ایست نو حضرت عمر رضي الله عنه او ابو یعلی (کوم چه د مدینې منورې قاضي ؤ) به ئې ګواهي نه قبلوله.

د نبي کریم ﷺ مبارک ارشاد دی:

ان من اجلال الله اكرام ذى الشيبة المسلم. (سنن ابى داؤد، الادب، باب فى تنزيل الناس منازلهم، ح:٤٨٤٣، صحيح الجامع الصغير للالبانى ح:۲۱۹۹)

"د سپینو ویښتانو د لرونکي یعني د سپین ږیري مسلمان عزت او اکرام کول د الله تعالی جل علی شانه اکرام او تعظیم دی".

په دې حدیث کښې ټولو هغو ورونو ته نصیحت دی چه یواځې له دې امله خفه او پریشانه کیږي چه د ږیرې ویښتان ئې سپین شوي وي.

لکه څرنګه چه د ږیرې خریل او د بریتونو اوږدول د مشرکینو طریقه ده او د دې بر خلاف د ږیرې اوږدول او د بریتونو لنډول د حضراتو انبیاء کرامو علیهم السلام طریقه ده نو د دې لپاره جناب نبي کریم ﷺ په دې باره کښې په سختۍ سره ویلي دي چه: من لم یأخذ من شاربه فلیس منا (یعنې چه کوم سړی بریتونه لنډ نه کړي نو هغه له مونږ څخه نه دی). نو له دې امله بریتونه دومره اوږدول لکه څرنګه چه ئې مشرکین او مسکان اوږدوي چه د بریتونو ویښتان ئې خولې ته ننوتلي وي یا د آسمان په طرف جګ ولاړ وي نو دا طریقه د اسلام د دین خلاف ده. د انبیاء علیهم السلام د سُنتو او د هغو د طریقې خلاف ورزي کول څومره د ګناه خبره ده.

وضع میں تم ہو نصاریٰ تو تمدن میں ہنود مسلماں ہیں جنہیں دیکھ کے شرمائیں یہود

"یعنې په وضع قطع (ظاهري شکل) کښې د نصارٰی غوندې ئې او په تمدن کښې د هنودو (هندوانو) غوندې، دي مسلمانان لیکن چه ورته وکتل شي نو یهود شرموي".

## د بریتونو د کمولو حکم

**پوښتنه**: بریتونه به سړی څه ډول کموي؟

**ځواب**: د بریتونو په باره کښې په مبارکو احادیثو کښې دا ډول الفاظ راغلي دي چه قصوا، احفوا، انهکوا آخري دوه لفظونه په مبالغه باندې دلالت کوي، له دې امله د بریتونو په کمولو کښې مبالغه کول (ښه تره لنډول) مستحب دي. حضرت ابن

عمر رضي الله عنهما به په لنډولو کښې دومره زیاته مبالغه کوله چه د پورتنۍ شونډې د څرمنې سپینوالی به ئې ښکاره شو. که چیرته په بریتونو باندې مشین تیر شي یا په بیاتي سره په ښه توګه لنډ کړی شي نو په دې سره د مبالغې صورت پیدا کیدلی شي. که چیرته مبالغه و نه شي بلکه په داسې ډول لنډ شي چه د پورتنۍ شونډې سوروالی په نظر راشي یعنې ویښته خولې ته داخل نه شي او چه ورته وکتل شي نو نفرت ترې پیدا نه شي نو تر یوې اندازې پورې د دې هم اجازه شته.

## د بریتونو ښې او کینې خوا ته د اوږدولو حکم

**پوښتنه**: بریتونه دواړه خواوو ته اوږدول څرنګه دي؟

**ځواب**: داسې کول مکروه دي، بریتونه دواړو خواوو ته مه اوږدوئ.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله عليه: و اما طرفا الشارب و هما السبالان فقيل هما منه و قيه من اللحية فقيل لا بأس بتركهما و قيل يكره لما فيه من التشبه با لاعاجم و اهل الكتاب و هـذا اولى بالصواب و تمامه فى حاشية نوح.

(ردالمحتار ج ۲، ص ۴۰۲، احسن الفتاوى ج ۸، ص ۷۴۳)

## مجاهدینو ته د بریتونو د اوږدولو حکم

**پوښتنه**: د مجاهد لپاره د جهاد په میدان کښې د بریتونو د اوږدولو حکم څه دی؟

**ځواب**: د مجاهدینو لپاره د جهاد په میدان کښې په دې نیت سره چه په دښمن باندې رُعب ولویږي د

شریعت لــه مخــې جــائز دي. پــه دې شــرط چــه د پــورتنۍ شونډې سوروالی ښکاره شي.

وفی الهندیة قال: قالوا الا بدعن طول الشارب للغزاة لیکون اهیب فی عین العدو کذافی الغیاثیة.

(عالمگیری ج۵، ص۳۴۸)

## د بریتـــونو د خـــریلو حکـــم

**پوښتنه**: په چړې باندې د بریتونو خریل جائز دي او که مکروه. په داسې حال کښې چه ځینې حضرات خریل مکروه بولي. نو آیا د بریتونو خریل په واقعي توګه مکروه دي؟

**ځواب**: د امام ابو حنیفه رحمه الله او صاحبینو رحمهما الله په اتفاق سره د بریتونو خریل یا داسې کمول چه د خریلو په شان وي سُنت دی.

قال الطحاوی رحمة الله علیه قصه حسن و احفاؤه احسن و افضل و هذا مـذهب ابی حنیفة و ابی یوسف و محمد رحمهم الله تعالی و قال فی آخر البحـث ان قـص الشارب من الفطرة و هو مما لا بد منه و ان ما بعد ذلک من الاحفـاء هـو افضـل و فیه من اصابة الخیر مـا لیس فی القص.

(شرح معانی الآثار ج۲، ص۲۷۹) (والتفاضل مع الدلائل القویة فی احسن الفتاوی ج۸، ص۴۵۰)

**یادونه**: تر دې ځایه پورې د ږیرې او بریتونو مفصل احکام بیان شول. اوس له ږیرې او بریتونو سره د مناسبت له مخې د بدن د نورو ویښتانو شرعي احکامو ته کتنه کیږي تر څو چه کتونکي ته ئـــې نوره هم عـــــامه شي.

## د سر د ویښتانو د جائزو صورتونو بیان

**پوښتنه**: د سر په ویښتانو کښې کوم کوم صورتونه جائز دي او کوم ناجائز. په ښه تفصیل سره ئې بیان کړی؟

**ځواب**: د سر د ویښتانو د پرېښودلو جائز صورتونه په لاندې ډول دي.

﴿۱﴾ د ځنیو پرېښودل او دا په درې ډولونو دی.

**لومړی**: د غوږونو تر نرمیو پورې چه په عربي کښې ورته "وفره" وایي.

**دویم**: د غوږونو تر نرمیو کښته او د اوږو نه پورته ځای پورې چه په عربي کښې ورته "لِمّه" وایي.

**درېیم**: تر اوږو پورې چه په عربي کښې ورته "جُمّه" وایي.

﴿۲﴾ حلق یعنې د ټول سر خریل.

﴿۳﴾ د ټول سر یو ډول کمول او برابرول.

په دوی کښې تر ټولو غوره صورت لومړنی صورت دی بیا د دویم صورت درجه ده او په درېیم صورت کښې یواځې جواز دی.

په دې کښې خو د هیڅا اختلاف نشته چه ځنې پرېښودل مسنون دي. لیکن د خریلو په سُنت والي کښې اختلاف دی.

علامه طیبي رحمه الله د حضرت علی رضي الله عنه د دائمي عمل له وجې سُنت ورته ویلي دي.

همدارنګه امام طحاوي رحمه الله ئې هم سُنت والی نقل کړی دی. په هر حال د خریلو په جواز کښې هیڅ شک نشته او د

کوچنيانو د ښې روزنې له امله د هغو د سر خريل بهتر دي بلکه د فساد د زياتوالي له وجې ضروري ده.

## په سر باندې د ويښتانو د پرېښودلو حکم

**پوښتنه**: د سر د ويښتانو پرېښودل سُنت دي او که ئې خريل؟

**ځواب**: سُنت په دوه ډوله دی: يو سُنت عبادت او بل سنت عادت، د مطلق سُنت اطلاق په سنتِ عبادت باندې کيږي چه په پرېښودلو سره ئې وعيد (د عذاب ويره) او په کولو سره د ثواب دی د ثواب مدار هم په همدې لومړي ډول پورې دی. په دويم ډول يعنې سُنت عادت باندې عمل کول هم د برکت سبب او د محبت نخښه ده ليکن د دين يوه داسې برخه نه ده چه په پرېښودلو سره ئې څوک ملامت کړی شي. اوس نو په سر باندې د ويښتانو پرېښودل په سنتِ عادت کښې داخل دی، چه څوک ئې د سُنتو په نيت پرېږدي نو د اجر او ثواب باعث دی.

بله دا چه له نبي کريم ﷺ څخه د حج په موقع د ويښتانو خريل هم ثابت دي. همدارنګه د حضرت علي رضي الله عنه تل د خريلو عادت وو د دې لپاره د سر خريل هم له کراهيت پرته جائز دی البته د ويښتانو پرېښودل افضل او بهتر دي.

(ملخص له امداد الفتاوی ج۴، ص۳۳۹څخه)

## د سر د ويښتانو ناجائز صورتونه

**پوښتنه**: نن صبا په عوامو کښې د سر د ويښتانو مختلفې نمونې رواج دي چه دوی ورته فيشني ويښتان وايي. په ټولو صورتونو کښې دا خبره څه نا څه مشترکه ده چه ويښتان له يوې خوا څخه کم او له بلې خوا څخه زيات وي. ګوا که فيشن هلته پوره کيږي چه په ويښتانو کښې يو شی والی نه وي. آيا د داسې فيشني ويښتانو شرعاً څه حکم دی؟

**ځواب**: د سر د ځينې برخې ويښتان خريل او ځينې پريښودل يا ځينې ډير کمول او ځينې لږ کمول. په حديث کښې له داسې ويښتانو څخه په صراحت سره منع راغلې ده که د کوم فاسق قوم يا ډلې شِعار وي او که نه وي. که چيرته د کومې فاسقې ډلې شِعار وي نو ګناه ئې نوره هم زياته ده.

(ملخص له احسن الفتاوی څخه)

په دې زمانې کښې له څلورو خواوو څخه د يو ډول ويښتانو کمولو پرته نور ټول صورتونه د انګريزانو شِعار دی. د دې لپاره له دې ډول ويښتانو څخه ځان ساتل ضروري دي ځکه چه رسول الله ﷺ له کفارو سره د مشابهت له غوره کولو څخه منع فرمايلې ده.

## د کوچني هلکانو د ويښتانو حکم

**پوښتنه**: آيا د کوچنيانو د ويښتانو د کمولو په باره کښې په مقدس شريعت کښې کومه پابندي شته او که نه؟

**ځواب**: د کوچنيانو د ويښتانو په اړه هم له (قزع) يعنې د ځينې برخې خريل او د ځينې پرېښودلو څخه منع راغلې ده. د دې لپاره غوره دا ده چه ټول سر ئې وخريل شي يا کم تر کمه له څلورو خواوو څخه د برابرولو په صورت کښې يو شان ښه کم کړى شي. فيشني ويښتان د کوچنيانو لپاره هم جائز نه دي.

عن ابن عمر رضي الله عنهما ان النبي ﷺ رأى صبيا حلق بعض رأسه فنهاهم عن ذلك وقال احلقوا كله او اتركوا كله رواه مسلم.

(مشكوة ج ۱، ص ۳۸، امداد الفتاوى ج ۴، ص ۲۲۳)

له حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دى چه جناب نبي کريم ﷺ يو هلک وليد چه د سر ځينې برخه ئې خريلي وه او ځينې ئې نه وه خريلې نو ئې له داسې ډول ويښتانو کمولو څخه منع وکړه او وئې فرمايل چه: "يا ئې د ټول سر ويښتان وخريئ او يا ټول پرېږدئ".

## د نارينه لپاره د ويښتانو کوڅۍ کول جائز نه دي

**پوښتنه**: که چيرته د کوم نارينه ويښتان ډير اوږده او ګڼ وي نو د هغو د ښې پالنې په خاطر کوڅۍ جوړول ورته جائز دي او که نه؟

**ځواب**: د نارينه وو لپاره د ويښتانو کوڅۍ کول جائز نه دي.

قال العلامة عالم بن العلاء الدهلوی رحمه الله: ویکره ان یصلی وهو عاقص شعره والعقص هو الاحکام والشد والمراد من المسألة عند بعض المشائخ ان یجمع شعره علی هامته ویشده بصمغ او غیره لیتلبد وعند بعضهم ان یلف ذوائبه حول رأسه کما تفعله النساء فی بعض الاوقات وعند بعضهم ان یجمع الشعر کله من قبل القفاء ویمسکه بخیط خرقة کیلا یصیب الارض اذا سجد.

(التاتارخانیة ج۱، ص۱٦٥/احسن الفتاوٰی ج۸، ص۸۷)

## د ښځو لپاره د کوڅیو حکم

**پوښتنه**: ښځې به د سر ویښتان په کومې طریقې سره په پرده کښې ساتي. که چیرته خپل ویښتان کوڅې کړي نو جائزه او روا طریقه ئې کومه یوه ده؟

**ځواب**: د ښځو لپاره د سر ویښتان را ټولول او په سر باندې برسیره په ککرۍ باندې تړل ناجائز دي. په حدیث شریف کښې په دې باندې ډیر سخت وعید راغلی دی چه داسې ښځو ته د جنت بوی هم نه ور په برخه کیږي. له دې پرته نورې طریقې روا دي په دې شرط چه د نامحرم سړي نظر پرې و نه لویږي او له کفارو سره مشابهت نه وي. ښځې دې خپل ویښتان ښه په پرده کښې وساتي تر دې پورې چه د زړو ښځو د سر ویښتان کټل هم حرام دي. په څټ باندې د ویښتانو را ټولول او تړل جائز دي بلکه د لمانځه په حالت کښې بهتر هم دي ځکه چه په دې سره د ویښتانو په پټولو کښې آسانتیا وي.

(ملخص له احسن الفتاوٰی ج۸، ص۷۴)

## د مصنوعي وېښتانو د لګولو حکم

**پوښتنه**: ځینې ښځې له بازار څخه مصنوعي وېښتان اخلي او له خپلو وېښتانو سره ئې لګوي تر څو چه وېښتان ئې اوږده ښکاره شي. آیا دا روا ده او که نه؟

**ځـــواب**: کـه چیرتـه دا وېښــتان د انســان وي نــو لــه خپلــو وېښــتانو ســره ئــې لګــول ګنــاه کبیــره ده. پــه دې بانــدې پــه حــدیثو کښــې لعنــت راغلــی دی او د ځنــاورو او داســې نــورو وېښتانو لګول جائز دي.

قال النبی ﷺ لعن الله الواصلة و المستوصلة و الواشمة و المستوشمة متفق علیه مشکٰوة.

یعنې جناب نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چه کومه ښځه پخپلو وېښتانو کښې د بلې ښځې د وېښتانو کوڅۍ ولګوي (که ئې خپله ولګوي او یا ئې په بل چا ولګوي) او هغه ښځه چه د بلې ښځې په وېښتانو کښې د خپلو وېښتانو کوڅۍ ولګوي او هغه ښځه چه خال ولګوي یا بلې ښځې ته خال ولګوي (یعنې په ستن یا بل شي باندې د بدن کوم ځای زخم کړي او بیا ئې په نکریزو، نیل یا نورو شیانو باندې ډک کړي) په دغو ټولو ښځو باندې د خدای ﷻ لعنت دی.

وفی الشامیة: قال ولایجوز الانتفاء به لحدیث لعن الله الواصلة و المستوصلة و انما یرخص فیما یتخذ من الوبر فیزید فی قرون النساء و ذوائبهن هدایة.

(شامیة ج۵، ص۵۸، باب بیع الفاسد)

## د انساني ویښتانو د خرڅولو حکم

**پوښتنه**: د انساني ویښتانو خرڅول جائز دي او که نه؟

**ځواب**: د انسان د شرافت او کرامت له مخې د هغه د بدن ویښتان خرڅول ناجائز او حرام دي. که چیرته چا خرڅ کړل نو قیمت ئې ورته حلال نه دی بلکه بیرته ورکول ئې ورته ضروري دی. (شامي ج۵، ص۵۸)

## د ښځو لپاره د سر ویښتانو د کمولو حکم

**پوښتنه**: نن صبا ښځې د فیشن په توګه د خپل سر ویښتان کموي آیا د ښځو لپاره د شریعت له نظره د سر د ویښتانو کمول جائز دي؟

**ځواب**: د ښځو لپاره د سر د ویښتانو کمول چه له کومې خوا څخه وي له نارینه وو سره د مشابهت له وجې شرعاً جائز نه دي. په مطهره شریعت کښې له دې څخه ممانعت راغلی دی هو! البته د شرعي عذر پر بناء د مثال په توګه که چیرته په سر کښې درد یا نورې بیمارۍ پیدا شي چه له مخې ئې د ویښتانو له کمولو څخه خلاصون نه وي. (یعنې له کمولو پرته په سخت تکلیف کښې ګرفتار وي) نو بیا د ویښتانو په لرې کولو کښې اجازه شته. لیکن چه کله هم دا عذر له منځه لاړ شي نو اجازه هم له منځه ځي.

و عن ابن عباس رضي الله عنهما قال قال رسول الله ﷺ لعن الله المتشبهین من الرجال بالنساء و المتشبهات من النساء بالرجال رواه البخاری.

(مشکوة، باب الترجل)

وعن علی رضی الله عنه نهی رسول الله ﷺ ان تحلق المرأة رأسها (رواه النسائی)
وفی حاشية المشكوة قوله ان تحلق المرأة رأسها وذلك لان الذوائب للنساء كا
للحی للرجال فی الهيئة و الجمال. (مشكوة ج۲، ص۳۸٤)

"حضرت ابن عباس رضی الله عنهما روايت كوي چه جناب نبي كريم ﷺ وفرمايل چه د الله تعالى لخوا څخه لعنت دی په هغو نارينه وو باندې چه له ښځو سره مشابهت (يو شان والی) غوره كوي او په هغو ښځو باندې چه له نارينه وو سره مشاهبت غوره كوي". (بخاري)

او حضرت علی رضی الله عنه روايت كوي چه د دواړو جهانو سردار ﷺ ښځې د سر له كمولو څخه منع كړي دي. (نسائي)

د دې حديث لاندې د مشكوة په حاشيه كښې راغلي چه د ښځو د سر له كمولو څخه د منع كولو وجه دا ده چه د ښځو كوڅۍ يا زلفې په صورت او ښائست كښې داسې دي لكه د نارينه وو ږيرې. له دې امله لكه څرنګه چه د نارينه وو لپاره د ږيرې خريل يا له موټي څخه كمول حرام دي همدارنګه د ښځو لپاره د سر د ويښتانو خريل يا كمول ناروا او حرام دي.

**نجـــو نې به څېل و يښتان له څو كلني څخــه نه كموي؟**

**پوښتنه**: د نجونو لپاره د ويښتانو د پرې كولو ممانعت له څو كلني څخه پيل كيږي؟

**ځواب**: اصل حكم خو له بلوغ (پيغلتوب) سره دی ليكن له نهه كلنۍ څخه نجلۍ په پرده او ډيرو مسائلو كښې د بالغې

(پیغلې) په حکم کښې راځي. نو ځکه له نهه کلني ځخه به د ویښتانو له پرې کولو ځخه منع کیږي.

**د وروځو حکم**

**پوښتنه**: که چیرته د چا وروځې ډیرې ګڼې وي او په لیدو کښې بدې ښکاریدلې نو د زیاتو ویښتانو په بیاتي سره برابرول څنګه دي؟

**ځواب**: که چیرته د چا وروځې ډیرې خورې ورې وي نو د هغو برابرول او د عام حالت مطابق جوړول ئې جائز دي. په دې شرط چه دومره مبالغه پکښې ونه شي تر څو چه د نامصه او متنمصه (هغه ښځې چه پخپله یا په بلې باندې د وروځو له شا و خوا څخه ویښتان لرې کوي او په منځ کښې نرۍ لیکه پکښې جوړوي) په حکم کښې را نه شي. ځکه چه په داسې ښځو باندې لعنت راغلی دی.

و في الشامية: قال و لا بأس باخذ الحاجبين و شعر وجهه ما لم يشبه المخنث تاتار خانية. (شامی ج۵، ص۲۸۸)

**د سینې او ګیډې د ویښتانو حکم**

**پوښتنه**: آیا د سینې او ګیډې د ویښتانو خریل جائز دي او که نه؟

**ځواب**: جائز دي لیکن د اولی (بهتري) خلاف دي.

و فی الهندية: قال و فی حلق شعر الصدر و الظهر ترك الادب كذا في القنية. (عالمگيرية ج۵، ص۳۵۸)

## د مټو او ورنونو د وېښتانو حکم

**پوښتنه**: په مټو او ورنونو باندې چه کوم وېښتان وي د هغو د خرېلو څه حکم دی؟

**ځواب**: د دغو وېښتانو خرېل او پرېښودل دواړه صحيح دي.

## د پوزې په دننه کښې د وېښتانو حکم

**پوښتنه**: د پوزې وېښتان يعنې د پوزې په دننه کښې چه کوم وېښتان دي د هغو پرې کول بهتر دي او که را ايستل او په څومره وخت کښې بايد پاک کړی شي؟

**ځواب**: د پوزې په دننه کښې د وېښتانو په بياتي سره پرې کول بهتر دي. را ايستل ئې مناسب نه دي. چه کله هم دا وېښتان اوږده په نظر راشي نو پاک ئې کړئ او د ډېرو وېښتانو دومره اوږده پرېښودل چه له پوزې څخه د باندې را وتلي وي او د خلکو د کرکې سبب وګرځي بالکل صحيح نه دي.

و في الشامية: قال لا ينتف انفه لانه يورث الاكلة. (شامی ج۵، ص۲۸۸، کتاب الحضر و الاباحة)

## د غوږونو د وېښتانو حکم

**پوښتنه**: د ځينو خلکو د غوږونو په پورتنی برخه کښې څه وېښتان را شنه کيږي. د دغو وېښتانو لرې کول شرعاً څنګه دي؟

**ځواب**: د غوږونو د وېښتانو پرې کول او پاکول جائز دي.

## د غړي د ویښتانو حکم

**پوښتنه**: د غړي د ویښتانو خریل جائز دي او که نه؟

**ځواب**: د غړي د ویښتانو خریل جائز دي او کوم کراهیت پکښې نشته. حضرت ګنګوهي قدس سرهٔ فرمایي: غړي جلا غړي دی او سر جلا غړي دی. له دې امله د غړي د ویښتانو خریل جائز دي.

(فتاوی رشیدیه ص۴۶۷)

## د تخرګونو د ویښتانو حکم

**پوښتنه**: د تخرګونو د ویښتانو شرعا څه حکم دی؟

**ځواب**: د نامه د لاندې د ویښتانو په شان د تخرګونو پاکوالی هم ضروري دی. البته په دې کښې بهتره دا ده چه دا ویښتان په نوکانو را وایستل شي. او خریل ئې هم جائز دي. (شامي ج۵، ص۲۸۸)

## د نامه لاندې د ویښتانو حکم

**پوښتنه**: د نامه لاندې د ویښتانو شرعي حکم څه دی؟

**ځواب**: په هرې اونۍ (هفته) کښې یو ځل د نامه لاندې د ویښتانو پاکول بهتر دي، تر ټولو بهتره ورځ د جُمعې ده چه د جُمعې تر لمانځه مخکښې ئې صفائي وشي. که چیرته په هره اونۍ کښې و نه شي نو پنځلس ورځې وروسته هم صحیح دی او آخري درجه ئې څلویښت ورځې ده، تر دې زیات پرېښودل ئې جائز نه دي. که چیرته څلویښت ورځې تیرې شي او بیا ئې هم پاک نه کړي نو ګنهګار به وي. د نوکانو او د تخرګونو هم همدا حکم دی.

(شامي ج۱، ص۲۸۸، کتاب الحظر و الاباحة)

و فی الهندیة: قال و لا عذر فیما وراء الاربعین و یستحق الوعید کذا فی القنیة. (عالمگیری ج۵، ص۲۵۸)

## د نامه لاندې د ویښتانو د پاکولو طریقه

**پوښتنه**: د نامه لاندې د ویښتانو د لرې کولو مسنونه طریقه څنګه ده؟

**ځواب**: د نامه لاندې د ویښتانو په پاکولو کښې د نارینه لپاره د چړې استعمالول بهتر دي. او د خریلو په وخت کښې به شروع د نامه له لاندې څخه کوي. د ښځې لپاره سُنت دا دی چه په ګوتو ئې وباسي او چاړه استعمال نه کړي.

و فی الاشباه و السنة فی عانة المرأة النتف.

(شامی ج۱، ص۲۸۸)

## د نامه لاندې د ویښتانو لپاره د پوډر استعمالول

**پوښتنه**: د نامه لاندې د پاکوالي لپاره د پوډر استعمالول څه حکم لري؟

**ځواب**: مستحبه دا ده چه نارینه چاړه استعمال کړي او ښځې ئې په ګوتو وباسي. البته د پوډر یا کریم استعمالول هم جائز دي.

(ملخص له احسن الفتاوی ج۸، ص۷۸)

## په بل چا باندې د نامه لاندې د ویښتانو د پاکوالي حکم

**پوښتنه**: که چیرته یو څوک د زوړوالي یا بلې کومې مجبورۍ له وجې د نامه لاندې د ویښتانو په پاکوالي قادر نه وي نو د هغه لپاره څه حکم دی چه څه باید وکړي؟

**ځواب**: د مجبورۍ په حالت کښې دې پخپلې ښځې باندې صفا کړي، که ئې ښځه نه وي نو په بل چا يعنې نائي او داسې نورو باندې په داسې حال کښې صفا کړي چه ورته ګوري به نه. همدارنګه په مخصوص اندام باندې د لاس له لګولو څخه به هم تر خپله وسه پورې ځان ساتي. که چیرته په پوډر یا داسې نورو سره په آسانۍ سره پاکیده نو په هغه دې پاک کړي.

وفي الهندية: قال في جامع الجوامع حلق عانته بيده و حلق الحجام جائز ان غض بصره كذافي التاتار خانية. (عالمگيريه ج٤، ص٣٥٨)

## د نامه لاندې د ويښتانو حدود

**سوال**: د نامه لاندې ويښتان تر کومه ځايه پورې بايد لرې کړی شي، د دُبر (کُونې) د شاوخوا د ويښتانو پاکوالی هم ضروري دی او که نه؟ په داسې حال کښې چه د دغو ويښتانو پاکوالی مشکل وي.

**ځواب**: د نامه لاندې د ويښتانو (عانه) حدود له نامه څخه کښته چه د نس حدود په کوم ځای کښې پای ته رسيږي دلته يو سخت هډوکی دی کوم چه د مثانې د غوښې د لاندې دی. يعنې د ويښتانو پاکوالی متصل له نامه څخه د لاندې نه شروع کيږي بلکه له همدې هډوکي څخه چه برسيره پرې مثانه ده، څخه شروع کيږي. له دې ځای څخه ونيسه درې ګوني اعضاء (يعنې د متيازو نلۍ اودواړه خُصې) او د دوی شاوخوا او د دوی په برابر د ورنونو هغه برخې چه د نجاست د

لګيدو ويره وي، د تهولو ويښتانو پاکوالی ضروري دی همدارنګه د دُبر او د هغه د شاوخوا د ويښتانو پاکوالی هم واجب دی.

و قال ابن عابدين رحمة الله عليه فی فصل الاحرام العانة الشعر القريب من فرج الرجل و المرأة و مثلها شعر الدبر بل هو اولی با لازالة لئلا يتعلق به شیء من الخارج عند الاستنجاء بلا حجر. (ردالمحتار ج۸، ص ۴۸۱/احسن الفتاوی ج۸، ص۷۸)

**په سر باندې د تيل د لګولو يعنې د سر د غوړولو حکم**

**پوښتنه**: د سر غوړول شرعاً څه حکم لري؟

**ځواب**: حضرت انس رضی الله عنه وائي چه نبي کريم ﷺ به خپل سر مبارک ډير ډير غوړاوه او خپله ږيره به ئې ډيره ډيره ږمنځوله. (شرح السنة، مشکوة)

نو له دې حديث څخه ثرګنده شوه چه په تيلو باندې سر غوړول سُنت دي او د ږيرې ږمنځول هم سنت دي ليکن کوم خلک چه تر هر اوداسه وروسته ږيره ږمنځوي دا په صحيح سُنتو کښې هيڅ بنياد نه لري له دې امله تر هر اوداسه وروسته د ږيرې د ږمنځولو عادت مه جوړوئ.

(مظاهر حق جديد ج ٤، ص ۲۲۳)

**په سر کښې د ليکې د ايستلو حکم**

**پوښتنه**: د سر په ويښتانو کښې د ليکې د ايستلو حکم څه دی او همدارنګه طريقه ئې څه ده؟

**ځواب**: حضرت عائشه‌رضي الله عنها وائي چه کله به رسول الله ﷺ د خپل سر مبارک په ويښتانو کښې ليکه ويستله نو له پاسه به ئې خپل ويښتان دوه برخې کړل او په منځ کښې به ئې ليکه و ايستله او د تندي مبارک ويښتان به ئې د دوو سترګو تر منځ پاتې شول. (ابو داؤد، مشکٰوة)

له دې څخه څرګنده شوه چه په سر باندې د سُنتو په مطابق اوږده ويښتان وي نو د ليکې ايستل پکښې سُنت دي. طريقه ئې دا ده چه د دواړو سترګو تر منځ برخې څخه تر ککرۍ پورې ويښتان په دوو برخو باندې وويشل شي.

## د ويښتانو په ښه توګه د ساتلو حکم

**پوښتنه**: آيا د ويښتانو د ښه او پاک ساتلو په باره کښې شرعاً کومه ځانګړې لارښوونه شته او که نه؟

**ځواب**: حضرت ابو هريره‌رضي الله عنه وائي چه جناب نبي کريم ﷺ وفرمايل چه کوم سړی پخپل سر باندې ويښتان پريږدي نو بايد چه په ښه توګه ئې وساتي. (ابو داؤد)

له دې حديث څخه څرګنده شوه چه د ويښتانو په باره کښې حکم ورکړ شوی دی چه بايد په ښه توګه وساتل شي. يعنې پريمينځل شي، غوړ کړی شي او ږمنځ شي. د ويښتانو په خواره واره حالت کښې پريښودل چه د خلکو لپاره د وحشت او کرکې سبب جوړ شي هيڅکله مناسب نه دي ځکه

چه غوره والی، پاکوالی او صفائي یو خوښ کړل شوی او محبوب شی دی. البته نارینه به په دې کښې مبالغه (ډیر ځان مصروفول) نه کوي ځکه چه نبي کریم ﷺ هره ورځ له ږمنځ وهلو څخه منع فرمایلې ده.

(ترمذي، ابو داؤد)

د دې لپاره باید له اعتدال او میانه روي سره د سر او ږیرې پاکوالي او صفائي ته پاملرنه وشي.

## د ویښتانو د پاک او ناپاک والي بیان

**پوښتنه**: که چیرته د اوبو په لوښي کښې ویښته ولوېږي نو څه حکم لري؟

**ځواب**: له خنزیر څخه پرته د نورو ټولو ځناورو ویښتان او همدارنګه د انسان ویښتان پاک دي. که چیرته د اوبو په لوښي کښې ولوېږي نو اوبه پرې نه مرداریږي. البته د خنزیر ویښتان لکه څرنګه چه ناپاک دي، که چیرته اوبو یا کوم بل شي ته ولوېږي نو هغه شی ناپاک ګرځي.

وفی الهدایة قال شعر الانسان وعظمه طاهر.